# د ملي تاریخ فلسفه

# او

# پښتونولي

ليکوال  قدرت الله حداد فرهاد

# د ملي تاریخ فلسفه

# او

# پښتونولي

قدرت الله حداد فرهاد




پہ دې دوړن غونډې ماحول کې زه

څه مستقبل به د انسان لټوم

د ځانځاني څپه مې وړې په مخه

له ځانه ورک يمه خپل ځان لټوم

نه د مذهب چېرته نښان پاتې شو

نه زه هندو نه مسلمان لټوم

نه اعتبار په زمانې پاتې دئ

نه د وختونو زه کاروان لټوم

د مستقبل په تاريکيو کې زه

که لټوم فقط افغان لټوم

ارواښاد حمزه شينواري

ددې پاڼو لیکوال قدرت الله حداد

د ښاغلي امام الدین ساپي څخه، چه د

**پښتونولي**

د سپېڅلي دود له مخې ئې ددې کتاب

ټول لګښت پرغاړه اخستی

د زړه له کومې مننه کوي

او کورودانی ورته وايي.

زوی او لور لوی!!

# مننه

دا کتاب لومړی ځل د ښاغلي قدرمند امام الدین ساپي په مرسته چاپ او خپور شو. ښاغلی ساپي چې یو وطنپال او واقعي پښتون دی د کلنو راهیسې په پېښور کې د پښتو د څېړنې مرکز د مسؤول په حیث په سلهاو پښتو کتابونه چاپ او خپاره او بې شمېره مقالې او روڼني خبرونه یې د (scprd.com) ویبپاڼې له لارې نه هیوادوالو ته وړاندې کړې دي.

دا ویل ضروري ګڼم چې ساپي صاحب زما د مرحوم پلار حداد صاحب (د افغان ملي تاریخ) کتاب په دوو جلدونو کې چاپ کړی او ددوی په سلهاوو نورې رسالې او روڼنی مقالې یې خپاره کړیدي. د حداد صاحب تر وفات وروسته (۱۵- ډسمبر- ۲۰۱۱) ساپي صاحب د خپلې ویبپاڼې (scprd.com) لومړی صفحه د مرحوم حداد صاحب په نوم ډالی کړه. زه د حداد فرهاد د کورنۍ لخوا د محترم ساپي صاحب نه د زړه له کومې مننه کوم، کورودانی ورته وایم او ددوی د لابریالیتوب له پاره دعاوې کوم.

همدارنګه د امریکې په شمالي کالیفرنیا کې د افغان کلتورې ټولنې نه چې دا کتاب یې د دوهم ځل لپاره چاپ او خپور کړی دی، د زړه له کومې مننه او کورودانی ورته وایم.

ولي احمد حداد فرهاد

# لومړۍ خبرې

«پښتونولي او د افغان ملي تاريخ» د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۲ کال کې خپور شو او دهغه راهيسې بيا تراوسه پورې څو ځله د نړۍ په بېلوبېلو برخو کې چاپ او خپور شويدی. د ګران هيواد افغانستان د اوسني بحراني حالت په نظر کي نيولو سره او د علاقمندانو د ډېرو غوښتنو پخاطر دادی دا کتاب چې د پښتو او پښتونولۍ اساسات په ښه توګه څرګندوي، يو ځل بيا خپروو. د يادولو وړ ده چې د پښتونولي اصول او لارښووني نه يوازې د هيواد په پښتني برخو کې بلکه په نورو برخو کې او د ډيورنډ کرښې بل طرف ته هم تراوسه استفاده ترې کېږي. دا مهمه ده چې وپوهېږو دپېړيو په ترڅ کې د پښتونولۍ څخه د پوهانو او مشرانو لخوا د اختلافاتو د حل و فصل، د ټولنيزو ستونځو ليري کولو او د سياسي، اقتصادي او نورو مسايلو لپاره څنګه په عملي شکل سره کار اخستل شوی دی. په پښتونولي کې استازي د خلګو لخوا انتخابېږي چې ددوی استازيتوب وکړي او د خبرواترو له لارې نه په محلي او ملي سطحو کې ستونځې له منځه يوسي چې په محلي سطح کې جرګه او په ملي سطح کې لويه جرګه نومېږي. هغه وخت چې افغانانو د ابدالي امپراتورۍ پرمحال په اوولسمه پېړۍ کې پر هند حکومت کاوه، د پښتونولي ځنې اصول د (پانچيت panchayat) ترعنوان لاندې هلته هم وروپېژندل سول چې اختلافات ليرې او حل کړي او تراوسه هم دا اصول پاتې او استفاده ترې کېږي.

پدې کتاب کې د پښتونولۍ تر شپېتو نه ډېر اصلونه په مکمله توګه تشريح شوي چې ريښه يې سوو کلنو ته غځېږي. په ډېموکراتيکه توګه يې ډېرې مسئلې حل کړي او تر غربي ډيموکراسۍ يې عمر ډېر دی. خو اوس د پښتني قومونو د نابودۍ او په يوځايي او مسلسله توګه د دوی د مشرانو د وژلو لپاره ډېرې هلې ځلې رواني او د پښتونولۍ د منځه وړلو لپاره د نويو بې بنسټو ايډيالوژۍ لکه افراديت، کمونيزم او غربي ډيموکراسي په زور تعميلول او خپرول، ددې واقعيت څرګنده نښه ده.

دا کتاب څوځله د بعضو عناصرو لخوا تر انتقاد لاندې راغلی چې دا ټول انتقادونه او دهغو په رد کې ځوابونه د ښاغلي «نصیر هنر پښتون» لخوا ددې کتاب په پای کې خپاره شویدي. دا به ډېره هوښیاري وای چې دې عناصرو هغه کلتوروژنه تر انتقاد لاندې راوستې وای چې په افغانستان کې روانه ده نسبت و دې ته چې خپله انرژي او وخت د هغه څه په انتقاد مصرف کړي چې هغه زموږ د هیواد د کلتور او ټولنې ډېره مهمه برخه ده. دا به د ټولو افغانانو مخصوصاً د تعلیم یافته طبقې لپاره ډېره غوره وي چې بهرني او د پردیو تاثیرات او اغېزې ښندې او له منځه یوسي. دا بهرني تاثیرات او لاسوهنې په افغانستان کې په بې سارې توګه په ډېره چټکی په مخه درومي. ددې ژوندي مثالونه لکه هغه بهرنۍ جامې چې په بازارونو کې پلورل کېږي، د ټولیزو رسنیو لخوا ټلویزوني او راډیویي خپروني، د افغاني لهجو په ځای په پردیو لهجو خبري کول او په تعلیمي ساحو کې ځای ورکول، د ملي مشرانو او د هیواد د باباګانو بې احترامي کول دي. که څه هم موږ اړ نه یو چې دې عناصرو ته ځواب ووایو، ځکه چې پښتونولي ډېرې قوي او تاریخي ریښې او لوړ اصول لري چې د میلونونو پرګنو لخوا په کار وړل کېږي؛ خو موږ فیصله وکړه چې پدې کې د ځوانانو لپاره یوه برخه اضافه کړو ترڅو هغوی په پښتونولۍ وپوهېږي او وکړای سي دا انتقادونه په تاریخي واقعیتونو او علمي دلیلونو سره رد کړي. پدې ارتباط غواړم د ښاغلي «نصیر هنر پښتون» دهغو زیارونو څخه چې د پورته ذکرشوو عناصرو د انتقادونو د علمي ځوابونو د ورکولو په برخه کې کښلي او ددې کتاب په پای کې خپاره شوي دي، د زړه له کومې مننه وکړم. همدارنګه د «زلمي پښتون» څخه چې ددې کتاب په اهتمام کې یې مرستې کړېدي مننه وړاندې کوم.

دا کتاب یو له هغو ډېرو کتابونو څخه دی چې زما د مرحوم پلار قدرت الله ''حداد فرهاد'' چې شپېته کاله یې لیکل وکړل او د افغان کلتور، تاریخ او سیاست په اړه یې عمیقه مطالعه او پوهه لرله، لخوا لیکل شوی دی. په شپېتو او اویاو سنو کې ډېرې ایډیالوژۍ او سیاسي ګوندونه چې د پردو په چوپړ کې وه رامنځ ته شول، مګر غلام محمد ''فرهاد'' د افغان ملت د ګوند بنسټ ایښوونکې او حدادصاحب د وطنپرستانو د یو ګروپ په ملګرتیا د ملت پرستۍ او د تېرو ملي اتلانو مفکورې خپرې کړې. زموږ هیواد د لویو قدرتونو په منځ کې

چې غواړي زموږ کلتور له منځه يوسي او افغاني ټولنه مو راګډوډه کړي،ښکېل شوی دی. که غواړو د اوسني بحراني حالاتو څخه ژوندي ووزو او د يوه ملت په توګه خپل هويت ، ژبه او افغاني اصلونه وساتو، نو بايد د خپلو ملي اتلانو پر قدم، قدم کښېږدو او د دوی تګلارې خپلې کړو. موږ ځوان نسل ته د پښتونولی د اصولو د لا ډېرو څېړنو په اړه بلنه ورکوو.

موږ به د جنګونو او ځاني تلفاتو څخه ووزو، خو که احتياط ونکړو د کلتور، رسومو او ارزشونو د ورکېدو نه به خلاص نشو. افغانستان به ددې زړه دردوونکې حالته ووزي، ځکه دا لومړی ځل نه دی چې موږ د يوې مشکلې دورې نه تېرېږو ، مګر بدبختانه پدې بيه چې په پېړيو به شاته پاتې شو. هغه هيوادونه چې يووخت موږ حکومت پرې کاوه، اوس په مستقيمه توګه زموږ په داخلي چارو کې لاسوهنه کوي. د ساړه جنګ په ترڅ کې د نړۍ خلکو د امريکې نه نيولې تر اروپا او آسيا پورې په وېرې کې ژوند کاوه، خو دا افغانان وه چې د سرو عسکرو په ماتېدو سره ميلونونه قربانۍ يې ورکړې، په لکونو يتيمان او کونډې يې قبول کړل او يو وېجاړ هيواد ورته پاتې شو؛ خو د نړۍ وېره له منځه ولاړه. د افغانانو ددې قربانۍ په ورکولو سره د افغانستان د ګاونډيانو وېره د افغانانو د غيرت، شجاعت او جذبې نه پيدا شوه. دوی دا فکر کاوه چې که په لکونه واقعي مجاهدين او قوي عسکري قوا چې د کمونستانو د رژيم نه پاتې شوې وه سره يوځای شي، د اوسنۍ ټکنالوجي په مرسته به افغانستان د منطقې يوه قوه شي. نو د بېلو بېلو ډلو او دهغو اړوند کسانو په وسلو سمبالولو او د داخلي جګړو په ګرمولو او د افغاني کلتور په وژنه سره غوښته چې افغان ملت په ټوله معنی له منځه يوسي. په ۲۰۰۱ کال کې د نوي حکومت په راتلو سره بيا هم ډېر بېګناه خلک مړه او پخواني جګړه ماران د محکمه کېدو په ځای لوړې عاليرتبه چوکۍ ترلاسه کړې. که څه هم بعضو خلکو راتلونکې ته هيله مند وه، خو د بن جرګې له لارې پخوانی پاچا محمدظاهرشاه په قصدي توګه له نظره ولوېد او جرګه د پرديو د ګوډاګانو په ګټه پای ته ورسېده او د افغانانو هيلې د خاورو سره برابرې شوې.

د بیا ودانولو، پوهنې او اقتصاد برخو کې ممکنه ده څه پېشرفت شوی وي، مګر بدبختانه دا تلپاتی پېشرفت ندی. عدل او عدالت د یوه حکومت د پاتې کېدو لپاره ډېر ضروري او مهم عنصر دی، خو دا هغه شی دی چې موږ یې د کمښت سره مخامخ یو. د یوه قوي ملي دولت د جوړېدو امکان هله شته چې افغانانو ته دا چانس ورکړای شي چې په ټوله معنی سره یوه واقعي لویه جرګه جوړه کړي او ربښتیني وطنپرستان پکښې برخه واخلي، بېله دې څخه چې پهغه کې جنګسالاران، قاچاق وړونکې او نور عالیرتبه چارواکې چې بهرنی شخصي اړیکې لري، وي. کله چې بهرني هیوادونه ددې ادعا وکړي چې هغوی نور ملتونه په پښو دروي ، مرسته ورسره کوي او جوړوي یې، دا یوازې دوی دځپلې فایدې او سیاسي مقصدونو لپاره کوي دهغه بل هیواد غم ددوی سره نشته.

راځی چې خپل هیواد ته جدي پاملرنه وکړو، پوهنه خپله کړو او ستونځې مو حل کړو. موږ دننه په افغانستان او بهر کې ډېر تجربه لروونکې او لایق افغانان لرو چې په واقعي توګه غواړي د افغانستان د انکشاف او پېشرفت او صلحې په موخه کار وکړي. لکه چې میرویس نیکه ویلې : د عقل او پوهې خاوندان نه یوازې په لویو ماڼیو کې، بلکه زمونږ په دښتونو او غرونو کې هم د عقل او پوهې خاوندان شته. موږ باید هغه کسانو ته چې د آزادی او هیواد لپاره یې قربانی ورکړې لکه واقعي مجاهدین چې خپلې ویني یې د هیواد د عزت او آزادی لپاره توی کړې او اوس هېر شویدي، چانس ورکړو. زموږ د افغانانو صفت، همت او جذبه ده؛ یوازینی شی چې موږ ضرورت ورته لرو هغه پوهه او علم دی. موږ باید د میرویس نیکه او احمدشاه بابا په څېر د یوموټې، آزاد، په سیاسي او عسکري لحاظ سره قوي افغانستان لپاره کار وکړو.
ومن الله التوفیق

ولي حداد فرهاد

## شومه

مخکنی وینا ........................................(۱)
تاریخي سبق ........................................(۲)
د افغانستان ملي تاریخ او د هغه فلسفه ........................(۹)
شرمېدلی تاریخ ........................................(۲۱)
د اسمایي تصویر ........................................(۲۵)
پښتانه او ددوی لرغونی تاریخ ..............................(۲۸)
پښتونولي یا پښتون اوسېدل ..............................(۳۵)

# د لوی ښتن په نامه
# مخکنۍ وینا

اوس، چه بیا د فتور دوره پر ګران هیواد باندي راغله او یوه پیړۍ وروسته پاتي ولاړو په کار ده، چه د افغان بچي لپاره د افغانستان ملي فلسفې د تاریخ په پلوشو کښې په لنډه توګه وړاندې شي یا د تاریخ هنداره په لاس ورکړه شي.

ما د افغان ملي تاریخ تر یوه حده مفصل لیکلی دئ، خو د هغه چاپ تر دې ډېر ګران دئ، سخت توفان روان دئ چاسره به دومره وخت هم نه وي، چه هغه ولولي. داطوفان د اسلام او ترقۍ په نامه راغلی،په حقیقت کښې ئې د افغان ملي فلسفه ووهله.

سږ کال واشنګټن پوسټ ورځپاڼې دوه مقالې خپرې کړي : یوه په جولای او بله په نومبرکښې. یوې د(سي آی اې) فعالیت په افغانستان کي ښود او بلې ئې د(کي جي بي). تاریخ پوهان به له دواړو ځخه د موخذ په ډول ګټه اوچته کړي.

دسیاسي جغرافیې پر بنا پاکستان او ایران او په یوه بل حد کښې سعودي عربستان، هند اوچین، شمالي نوي آزاد شوي جمهوریتونه، چه ګوري میدان تش دئ خپل د سیاسي غرضونو لپاره فعالیت کوي. امریکا غواړي یو بې خاصیته حکومت هلته جوړ شي، په داسي حالاتوکښې دوې خبري ډېر اهمیت لري :

لومړی - آیا افغانستان به خپل تاریخ وساتي ؟

دوهم - ملي یوالی به وساتي؟

نو ځکه مي د لومړي ځل لپاره د افغانستان د ملي فلسفې تیوري ګاني د تاریخ له پاڼو را واخیستې او په یوه مقاله کي مې خپلو هیوادوالو ته په لنډه توګه بیان کړې. اوس د نسلونو کار په مخه کي دئ او ښایي، چه یوه خاکه به په لاس کي وي.

پیشینه خلګو ګټلي ځني لاړل
ناخلفه مشه لوی د چا په در

نوامبر ۱۹۹۲، ورجینیا، امریکا

# تاریخي سبق

قطب مینار په ډهلي کي د نړۍ له ډېرو اوچتو میثارو یا څلو څخه دئ، چه ساری ئې په ټوله نړۍ کښې نشته.

ددغه څلي کار په ۱۱۹۹ میلادي کال کي محمد غوري پیل او په ۱۵۰۳ م کال کي سکندر لودي هغه بشپړ کړ. ددغه څنګه سبب مذهبي شخړي وې اوکوم کار، چه محمد غوري، چه د سلطان معزالدین غوري په نامه یادېږي پیل کړ سکندر لودي پشړ کړ او کومه هیله، چه بایزید روښان او خوشحال بابا درلوده، میرویس او احمدشاه بابا ترسره کړه.

مونږ باید د خپلو مشرانو نیمګړي چاري بشپړي کړو. راځئ بسم الله! که یو پښتون د بل پښتون پر پله پل کښېږدي، نو هغه داسي څلي شي، چه پېړۍ پېړۍ به د هغه برم پاتي وي.



حاجي ميرويس خان هوتک (ميرويس نيکه) ۱۰۵۲-۱۰۹۴ لمريز هجري

Haji Mirwais Khan Hottak (Mirwais Nekka) 1673-1715



درانی احمدشاه (احمدشاه بابا) ۱۱۰۲-۱۱۵۱ لمريز هجري
Ahmad Shah Durrani (Ahmad Shah Baba) 1722-1772



رحمان بابا ۱۰۳۲-۱۰۹۰ لمریز هجري
Rahman Baba 1653-1711



خوشحال خان ختک (خوشحال بابا) ۹۹۲-۱۰۷۰ لمریز هجري
Khushal Khan Khattak 1613-1691



خان عبدالغفارخان ۱۲۶۹-۱۳۶۷ لمریزهجري

عبدالصمدخان اڅکزی ۱۲۸۶-۱۳۵۲ لمریزهجري

Khan Abdul Ghafar Khan 1890 - 1988 (R)
Abdul Samad Khan Achakza 1907 - 1973 (L)

# د افغانستان ملي تاريخ
# او د هغه فلسفه

په دغه نړۍ او يا ددغې نړۍ په يوه مخ کې يو تاريخي حقيقت پروت دئ، دغه دروند، روڼ او ځلانده حقيقت خوږ او د افغانانو روح او ساه افغانستان دئ.

دغه تاريخي حقيقت دچين او پارس، ماوراالنهر او هندوستان ترمنځ سيمه نيولې ده، چه د نړۍ د پېښو يرغلونو څخه رک راوتلی او وزي به. تاريخي څېړينې ښيي، چه زمونږ په هيواد کې شل زره کاله دمخه ټولنه او ښار موجود و. آرنولډ ټاينبي تاريخ پوه او فيلسوف دا خبره څرګنده کړېده، چه شل زره کاله دمخه برونز يا ژړ فلز دلته جوړ شوی دئ او استعمال ئې روا ج لاره.

مونږ په افغانستان کې دوه ډوله مدنيتونه لرو :

الف – هغه، چه همدلته ددې ځای د اوسېدونکو له خوا منځ ته راغلي.

ب – هغه، چه له نورو خواو نه راغلي دي.

تر ميلاد يونيم زر کاله پخوا ويدي مدنيت، چه په ريګويد کتاب کې د پکهت (پښتون) او نورو قبيلو ذکر راغلی

او د افغانستان د رودونو نومونه دي، دغه مدنيت دمالداري ؤ.

دوهم مدنيت په نړۍ کې دکرهڼې مدنيت دئ، چه د اوستا په نامه يادېږي او مرکز يې بخدي يا بلخ ؤ.

په ملي تاريخ کې ددې له پاره، چه د لوستونکي فکر ګډوډ نه شي د نورو اړخونو مدنيتونه يا يرغلونه او تېري نه راځي او ښل تر څېړنې لاندي نيول کېږي. د مثال په ډول ۳۳۴ کاله دمخه تر ميلاد يوناني سکندر او د هغوی مدنيت راغی، چه تفصيل ئې په ملي تاريخ کې راغلی دئ. مونږ د خپل تعريف له مخي ملي تاريخ له هغه مدنيتونه او غورځنګو نه بولو، چه د همدې ځای د خلکو لخوا رامنځ ته شويدی.

له دغو زمانو بيا د اسلام تر راتګ پوري (۱۴۴م) د کوشانيانو لويه امپراتوري جوړه شوه، چه د دوبي مرکز يې بګرام ؤ او د ژمي پايتخت يې پېښور ؤ.

عرب مسلمانان، چه افغانستان ته راغلل لکه يوناني سکندر له ډېرو ستونځو سره مخامخ شول څو په ۸۶۱ م کال يعقوب ليث صفاري يو ځوانمرد او مېړنی افغان د زرنج اوسېدونکی، خپله بشپړه خپلواکي څرګنده کړه خراسان او پارس يا اوسنی ايران ئې ونيول. عربي ژبه يې منع کړه، چه په دفتر او ديوان کي استعمال نه شي د هغه پر ځای افغاني دري په کار شوه. بايد ووايو، چه تر دغه وخته پوري د پاړسي ژبي کومه نسخه په ايران کي نده ليدل شوې. د لومړي ځل لپاره د يعقوب صفار په ستاينه کي دري شعر وويل شو.

په افغانستان کي پښتانه ځني ځانګړي خصوصيتونه لري. له هغه جملې نه يو هم دادی، چه مارکسيسټ تاريخ پوهان، چه ځانګړي تحليل لري هغوی وايي، چه: پښتون قوم د غلامۍ دوره نده تېره کړې او دوی د غرو خپلواک پادشاهان ؤ او پخوا تر اسلامه ماهويه سوري يو خپلواک پادشاه ؤ د غور په سيمه کي.

د صفاريانو دوره، چه له برمه ډکه وه او کله چه پای ته ورسېده، نو په غزني کي يو بل دور زرغون شو (۱۰۰۲م کال ؤ )، چه سلطان محمود غزنوي ئې په سرکې ؤ. له سلطان محمود سره هندوستان ته ډول ډول خلک او د افغانستان بېلابېل قومونه ولاړل، خو پښتنو دده په لښکر کي څرګنده برخه درلوده، چه لوی منصبداران ئې هم هلته د امتيازاتو په اخستلو پاتي شول. دغه مطلب د( افغان اشرف او مغل ) په کتاب کي راغلی دئ، چه بيا وروسته د وړو خپلواکو دولتو په جوړ ولو بريالي شول. او کله چه د غور پادشاهان هلته ورسېدل څوسوه کاله هندوستان د دوئ په لاس کي ؤ، چه د هغوی لوی پادشاه سلطان غياث الدين غوري ؤ.

کله چه سلطان بهلول لودي د ډهلي پر تخت کښېناست ( ۱۴۵۱م کال ) د افغانستان د سياست په عملي کولو ئې لاس پوري کړ.

ده د افغانستان د سيمو خلکو ته بلنه ورکړه، چه راشي هندوستان ته او په زرهاؤ پښتانه هندوستان ته راغلل، چه د سلطان بهلول تر مشرۍ لاندي ئې ديوې نخبې طبقې حيثيت غوره کړ.

تاريخ وښودله، چه د سلطان بهلول لودي سياست، چه هندوستان افغانستان کړي، بريالی نه شو. د هغه وجه دا وه، چه د هندوستان نفوس ډېر او پياوړی کلتور ئې لرلو. دوی هلته د

زمانې په تېرېدو سره میشته شول او خپل پښتني خصوصيات ئې له لاسه ورکړل، کنه د وينې او يا نژاد له مخې د پښتنو اکثريت په هندوستان کي دئ.

له بلي خوا د بهلول تيوري ټولو پښتنو نه شواى درک کولاى. همدغه بدبختي وه، چه بابر په کابل کي اقتدار تر لاسه او پښتانه ورسره ملګري شول او په پاني پت کي له ابراهيم لودي سره وجنګېدل او يو افغان سلطنت د افغانانو په لاس مات شو.

داسي ښکاري، چه په ۱۷۴۹ ميلادي کال کي احمدشاه بابا نه غوښتل، چه په ډهلي کي پاتي شي اوپايتخت له کندهاره و ډهلي ته منتقل کړي.

په ملي تاريخ کي څو تيورۍ موجودي دي : لومړۍ تيوري د بهلول لودي د هندوستان افغان پاچا ده بيا د شيرشاه سوري تيوري ده. ورپسې د خان جهان خان لودي او بيا دې پير روښان اوخوشحال خان. او همدارنګه د ميرويس بابا او احمدشاه بابا تيورۍ دي، چه په ملي تاريخ کي ښائې دغه تيوري ګاني ولوستل او غور پري وشي.

شاه اشرف خان هوتک او آزاد خان افغان هم تيوري ګاني لري، چه له بده مرغه پر دغو تيورګانو کار نه دئ شوی.

په ۱۷۹۹م کي شاه زمان هم ملي تيوری لرله، بيا بې تيوري پادشاهان پيدا شول، ترڅو امان الله خان پادشاه شو. ظاهرشاه او محمد داؤد هم په ورستيو کلو کي ملي تيوري موندلي وې او بيا د خارجي نوکريو وار راغی، چه دادي د تاريخ ډېري شرمېدلې پاڼې همدغه دي، چه تر شخصي او کورنيو ګټو هم بدي تمامې شوي.

۱- د سلطان بهلول لودي هماغه مفکوره شوه، چه هندوستان ته ئې پښتانه په بلن ليک راوغوښتل او هڅه ئې وکړه، چه هندوستان افغاني کړي. ځکه چه د سلطان محمود غزنوي په عسکرو کي ۱۲۰۰۰ پښتانه وه. د (افغان اشرف او مغل) کتاب وائي، چه دوی وروسته هلته پاتي شول او ځيني سيمي ئې په لاس کي وي، چه نيازي، لودي، سوري، ميانې، کاکړ، کرياني ورو ورو راتلل او ميشته کېدل څو بهلول لودي د هندوستان زياته برخه ونيوله او ډهلي يې مرکز ؤ او بهلول لودي د هند امپراتور شو.

**۲-** شېرشاه سوري ۱۵۴۰-۱۵۴۵م: د شېرشاه سوري د نبوغ لويه علامه داده، چه په ځلورو کلو سلطنت کي په هندوستان کي داسي نظام جوړ کړ، چه تر اوسه پوري د هند د نظام اساس تشکيلوي. دده مفکوره دا وه، چه پښتانه په خپل استعداد کي ډېر پياوړي خلګ دي، خو ملي يووالې ته ضرورت لري، چه له قبيلوي حالت نه بايد ملي جوړښت ته رادننه شي او ټول د يو افغان په نامه ياد شي. دا د يوه افغان خبره ده، دده دخولې نه:(افغان بس دئ!) «په تاريخ کي راغلي، چه شېرشاه له چا پوښتنه وکړه، چه ته څوک ئې؟ هغه تفصيل شروع کړ. شېرشاه ورته وويل :« افغان بس دئ».

**۳-** خان جهان خان لودي: يو با استعداده افغان ؤ د جهانګير په امپراتورى کي ئې لوړ مقام درلود د ښه شخصيت خاوند ؤ. وايي، چه د سپه سالار، امير، او بل هر لقب او مقام ئې درلود. مغل امپراتور جهانګير ويلي وه، چه « زه په هندوستان حکومت کوم او خان جهان لودي ئې زما پر زړه کوي.» چه دغه خبره يوه انګليسي تجارتي هيئت يادداشت کړې وه.
وروسته له جهانګيره شاه جهان پاچا سو. خان جهان لودي دده څه مرور او څو ولايتونه ئې آزاد کړل. ده خپله مفکوره داسي بيانوله: «که وروروليي او انسانيت وي موږ حاضر يو، چه ددوى سره کار وکړو، او که دوى زمونږ د ذات او موجوديت مخالف وي، نو موږ حق لرو، چه په توره خپل موجوديت وساتو».
په يوه بله مرحله کي خان جهان لودي وويل: « خواره پښتانه دي سره ټول شي، د وړو پادشاهيو په ځاى دي يو پياوړى او لوى سلطنت جوړ کړي».

**۴-** پير روښان: ده خيرالبيان په پښتو ژبه وليکه. اسلام او پښتونولي ئې سره يو ځاى او د ملايانو له خوا په کفر تورن شو، خو ده اسلام او پښتونولي فلسفه کړه او ډېر کلونه وجنګيد، ډېري سيمي ئې له پېښوره تر ننګرهاره او قبايلو تر غزني پوري آزادي کړي.

**۵-** خوشحال خټک، ايمل خان، او دريا خان د پښتني حکومت په هڅه کي شول :

نه خپله راکړه ورکړه نه خپل حکومت دئ
د بل حکم پرې زندان شي چه په خپل حکم عادت دئ

دلته ملي فلسفه دې حد ته ورسېده، چه د شېرشاه سوري او سلطان حميد لودي حکومتونه په هند کي ؤ. خو دا ځل ئې مرکزونو د پښتنو په اصلي سيمو کې موقعيت درلود. د ملت پرستی له فلسفې سره د خاورې مسأله يو ځای سوه. په دې کي هيڅ شک نشته که پير روښان يا خوشحال خان د دولت په جوړولو بريالي شوي وای، دولتي ژبه به پښتو وای ځکه چه په دغه دوره کي د پښتو ژبي (نظم اونثر) ډېر پياوړي وه او ددوی مراسلې لکه د خوشحال خان وصيت نامه او کتابت په پښتو وه.

۶- په ۱۷۰۰ ميلادي کال کي د پير روښان او خوشال خان ملي فلسفه د ميرويس بابا له پلوه پرمخ بېول کېده. ميرويس په کندهار کې د خپل لوړ استعداد په برکت هغه پښتانه سره ټول کړل، چه په ختيځ کي د مغلو او لوېديځ کي د صفوي دولت له خوا ټکول سوي ؤ.
ميرويس بابا وويل: «که تاسي سره يو نه شئ تاسو نه شي کولای د پرديو جغ له خپلو اوږو ايسته کړئ!». د خاوري او خلګو آزادي دده فلسفه وه.
ميرويس پر ايراني دولت ور ودانګل، خو د هند مغلي دولت ته ئې ډاډ ورکړ، چه هغوی ته په عين نظر نه ګوري ځکه چه دی پوهيدو، چه له دواړو قوتو سره په يوه وخت کي مقابله نشي کېدای. له بده مرغه ميرويس، چه د لوديځ او جنوب افغانستان زياتره برخه ئې خپلواکه کړه ډېر وخت ژوندی نه ؤ او د ايران ۲۵زره لښکر ئې، چه د خسروخان په مشری د کندهار په لور راغلي وه په خورا شجاعت او تدبير سره پوپنا کړه، چه يو هم ژوندی پاتي نه شو. دا داسي يو کار ؤ، چه د ايران صفوي دولت ئې بدنام او ناکام کړ او له ټول ايران څخه ئې د مقابلې جرئت واخيست. په پای کي ايراني صفوي دولت دده د زوی محمود په لاس سقوط وکړ.

**۷-** د میرویس زوی محمود چه د اصفحان پر تخت کښېنوست (۱۷۲۲م) انساني لوړ خصلتونه ئې درلودل. دده په ملي فلسفه کي داسي راغلي، چه محمود به هر سهار د خپلو سپاهیانو سره غیږي نیولې. د دربار وزیر ورته وویل، چه: اعلیحضرته تاسو ته مناسب نه ده، چه له سپاهیانو سره غیږي ونیسئ. محمود ورته وویل چه: «زه پادشاه یم ددوی په برکت. په حقیقت کي غواړم، چه تاسو، دوی او ټول خلک پوه شي، چه زما او زما د ملت ترمنځ کوم توپیر نشته. دا زمونږ ترمنځ مفاهمه ده، چه یو ورور به د ملت له غړو پادشاه وي بل به سپاهي، خو په حقیقت کي دواړه وروڼه دي او د یوه ملت غړي.». مونږ وینو، چه د افغان ملي تاریخ فلسفه وار له واره پیاوړې کېږي.

**۸-** شاه اشرف: د میر ویس وراره، چه د محمود په دوران کي د تهران والي ؤ، افغاني سلطنت ئې ډیپلوماسی مرحلې ته ورساوه، چه له ترکانو سره د یو تړون او روسانو سره د بل تړون په اساس ئې د ډیپلوماټیکو روابطو لاره پرانستله او افغاني سفیر احمد خان بلوڅ استانبول ته لاړ، چه تود هرکلی ئې وشو. شاه اشرف د هرات د ابدالیانو او د کندهار له غلجیانو مرسته وغوښتله او دا یې څرګنده کړه چه: « د اصفحان او آذربایجان نه نیولې د هندوستان تر نوآبانو دغه پراخه ځمکه د پښتنو تر اداري لاندي ده. که تاسو دا خبره زړه ته وغورځوئ او پوره پرې پوه شئ او خپله خپلي پښتنی ماتې نه کړئ دا دئ لوی قدرت لرو، نو ما سره ودرېږئ ما د ترکانو د خلافت او د روسانو د امپراتوری زور ولید دواړو ماته وخوړه.». دلته داسي ښکاري، چه شاه اشرف ډېر پراخ پلان او نقشه درلوده، چه د ملي تاریخ د فلسفې یوه ټاکلې مرحله ده.

**۹-** احمدشاه بابا: دغه لوړ شخصیت د ښه فکر او عمل خاوند ؤ. د اخلاقو په لحاظ ولي الله، په عسکری لحاظ سپه سالار، په سیاست کي لوی سیاستمدار، په توپ جوړولو کې استاد، په ادب کي ادیب او شاعر، په عدالت کي عادل، په مهربانی کي رحیم، په پښتو کې پښتون، په ځوانمردی کي ځوانمرد او په سخاوت کي سخي ؤ.
ده په یوه کال کي لوی افغانستان تأمین کړ. له دې امله، چه پرته له پښتنو په امپراتوری کي نور قومونه وه، نو د هغوی په رعایت د دفتر ژبه دري سوه که څه هم احمدشاه بابا د

پښتو ژبي اديب ؤ. دلته د افغانستان مفهوم، چه د افغانستان د ټولو قومونو نه نمايندګي وکړي رامنځ ته شو. بلوڅ، هزاره، تا جيک، ترکمن، ازبک، بيات، افشار او ډېر نور مسلمان او غيرمسلمان لکه هندوان، زردشتيان، ارمنيان، يهودان، ټول د افغان تر بيرغ لاندي راټول سول او لوی افغانستان له مشهده تر نيشاپور او طبسه نيولې بيا تر سرهند او اګرې او هند تر بحيرې پوري او له تبت، بخارا او سمرقند سره ئې سرحدونه ولګېدل. پښتانه او غير پښتانه په دوه صفتونو متصل شول. تاجک افغان، ازبک افغان، بلوڅ افغان، هزاره افغان او نور. ټول هغه خلګ چه له ظالمو پادشاهانو مرور وه د عدالت په سيمه را غونډ شول دغه وخت افغان ملي فلسفه خپل عالي حد ته رسيږي. هر سړی دننه په افغانستان کي، چه له هرطبقې، قوم، نژاد، ژبي او دين ؤ بسيا او مصؤن ؤ او احمدشاهي قوانينو دوی ته پوره امنيت ورکړئ ؤ. افغانستان داسي د امن ځمکه وه، چه د جنګونو په دوران کي د مقابل لوري خلګ د خپل سر او مال د امن له پاره افغانستان ته راتلل، ددوی مال او ناموس به په امن کي ؤ. ټول بهرني ليکوال په دې متفق الرأی دي، چه د احمدشاه له عدالت څخه دوست او دښمن دواړو رضايت درلود.

## لویه جرگه سال ۱۱۲۶ هجری مطابق ۱۷۴۷ میلادی در کندهار



معروف ترین جرگه تاریخ افغانستان که یکی از موثرترین جرگه ها در تاریخ وطن ما میباشد در سال ۱۷۴۷ میلادی در قندهار توسط توسط وطن داران ما برپا شد. در این جرگه احمدخان ابدالی اگرچه که جوان ترین اشتراک کننده این جرگه بود بحیث پادشاه انتخاب و از نفاق و برادرکشی در میان مردم جلوگیری شد. در تصویر بالا ملنگ صابرشاه پسر متصوف معروف استاد لایخور کابلی را در حالی نشان میدهد که خوشه گندم را بر سر اعلیحضرت احمدشاه بابا میگذارد و انتخاب اورا تبریک میگوید. این انتخاب و این جرگه سبب بوجود آمدن امپراتوری عظیم ابدالی اعتلا و عظمت افغانستان گردید.

**۱۰-** آزاد خان افغان او د هغه ملي تیوري: آزاد خان هغه ځلانده څېره ده، چه په ملي تاریخ کي لړي خبري وربا‌ندي شويدي. کله چه د افغانانو دولت په ایران کي سقوط وکړ، آزاد خان د آذربایجان حکمران او مشر ؤ. (وګ. دنادر افشار رساله د لکهارټ لیکنه) دی غلجی او یو ځوانمرد مېړنی ؤ. ده د یوه ځوانمرد په توګه د ایران بېلابېل خلګ پر ځان راټول کړل او د احمدشاه بابا د امپراتوری تر زمانې پوري د ایران د تخت مدعي ؤ. (۱۷۵۵م) د پوهاند حبیبي په پښتو لیک کي راغلي، چه د آزاد خان افغان سکه د اصفحان په موزیم کي موجوده ده. آزاد خان د نادر افشار سره ډغري ووهلې او خپله خپلواکي ئې په آذربایجان کي ساتلې وه.

ډاکټر ګنډاسنګ د احمدشاه دراني په کتاب کي د آزاد خان افغان پر ملي تیوري خبري کوي، چه ده یو پراخ پلان درلود او خپل پلان یې تشریح کړ، چه دی غواړي افغانستان، ایران او هندوستان یوه حوزه او یو هیواد کړي. ده د خلګو په یوه ستره غونډه کي خپل پلان څرګند کړ.

تر نادر افشار وروسته، آزاد خان افغان، محمد خان قاجار او کریم خان زند د ایران د پاچاهی لپاره درې کاندیدان وه.

آزاد خان ویل: د لویو هدفونو په لار کي شیعه، سني او قوم په نظر کي نه نیول کېږي. (هم هغه کتاب)

**۱۱-** په ۱۷۹۸ م کال کي اعلیحضرت شاه زمان ملي فلسفې ته نوره پراختیا ورکړه او هغه دا چه ده دې ته تیاري ونیوله، چه ټول اروپایي استعماري قوتونه، چه انګرېزان یې په لومړی درجه پیاوړي وه له هندوستان څخه وباسي او آسیا ته له دې اپته نجات ورکړي. شاه زمان په دې لاره کي دومره ترتیبات ونیول، چه دده پادشاهي د آس په شا تېره سوه. که چېری د ایران حکومت د انګرېزانو سره مرسته نوای کړې، نو بېله شکه انګرېزان له هندوستانه وتلي وه او په دې خبره په خپله انګرېزان هم قانع دي. (وګ. افغانستان د تاریخ په بهېر کي د غبار لیکنه)

دا وه د افغان ملي فلسفه، چه په دریو پېړیوکې روزل شوې وه.

په کال ۱۹۷۹کي د پخواني شوروي اتحاد لښکري افغانستان ته راننوتلې. څورلس کاله جنګونو دوام وکړ. هرچا له بهرني طاقتو څخه د افغانستان په سره تناره کي خپله ډوډۍ پخوله. يو شمېر ليکوالو بېله دې څخه، چه د افغان ملي تاريخ په تاريخي تکامل پوه شي يو لړ کتابونه او مقالې ئې وليکلې، چه ګواکې پښتنو په دې ملک کي ظلم کړی دئ؛ د خراسان د نامه شوقونه ئې وکړل، د فدرالي حکومت خبري وشوي، خو دوی د افغانستان د جوړېدو تاريخي ضرورت هېر کړی ؤ. اسلام او کمونستي په پښتون او غيرپښتون بدله شوه. تباهي راغله. د ايران، پاکستان، عربو او نورو مداخلې شروع شوې. نو دادی، چه د افغان تاريخي فلسفه مو څرګنده کړه، چه خلګ فکر پرې وکړي، چه آيا د افغانستان مفهوم ددوی په ګټه دئ يا قومي مفاهيم؟

**۱۲- مظفرخان افغان او د هغه تيوري:** په کال ۱۸۱۸ ميلادي کي مظفرخان سدوزی افغان د ملتان مشر او حکمران ؤ. دی يومېړنی په تمامه معنیٰ افغان ؤ. مظفرخان په ملي تاريخ کي حقمن دئ. ښه خبره به دا وه، چه افغانستان کي دده په نامه يو سړک يا يوه ښوونځی نومول شوې وای. له بده مرغه دده نوم په تاريخ کي لږ راغلی دئ. کله چه د فتور په دوره کي له کشمېره، ډېرې اسماعيل خان نه، ډېرې غازي خان، پېښور او نورو افغاني سيمو څخه سردار حکمرانانو د سيکانو په مقابل کي ماته کوله او تښتېدل، ځانونه ئې کابل ته رسول، خو مظفرخان دومره مقاومت وکړ، چه دی خپله، دده دوه زامن، لور او مېرمن له ټولي کورنۍ سره په شهادت ورسېدل. دغه وخت دئ، چه د ملتان ماته امکان لري، خو څو ځله د ملتان خلګ پاڅېدل او چا ئې مرسته ونه کړله.
د مظفرخان عقيده دا وه چه: «مرګی ښه دئ تر ژوندونه  چه عزته سره نه وي زيست روزګار!» سکانو درانه تلفات وليدل، خو کوم افغان ئې په اسارت کي نه درلود. مظفرخان کولای شول، چه ملتان تسليم کړي او وتښتي. امان ئې هم غوښتلای شو او يا دا چه باج ومني. په داسي حال کي، چه دغه ټولي خبري ورته کېدلي، خو مظفرخان يو رېښتنی افغان ؤ، چه د ظفر او مرګ ترمنځ يې دريم انتخاب نه درلود.
په افغانستان کي اجتماعي ترکيب او اجتماعي جغرافيه داسي ده، چه ملي يووالی او افغاني مفهوم کوم چه بحث وربـاندي شوی د ټولو په ګټه دئ.

ددې لپاره چه ملي يووالی تأمين شي، افغانستان هم لکه مدني هيوادونه ښايي، چه خپلې تاريخي مبدا ته يا يوې مبدا ته، چه د افغانستان تاسيس په خپلو تاريخي حدودو کې دئ، عقيده او احترام ولري. د مثال په ډول امريکا، چه د لوی افغانستان له تاسيسه سره په يوې زمانې کې تاسيس شوې خپل تاريخ ئې وساته. هم هغه مشران، هم هغه فلسفه، هم هغه د خپلواکۍ اعلاميه او قوانين او اصول. ...، خو افغانانو دا کار ونه کړ. د دواړو عواقب او نتايج څرګند دي.

**۱۳-** پاتې شو امان الله خان (۱۹۱۹م) چه په کار دي څه خبري پرې وشي. ځکه چه د افغانستان د اوسنی جغرافيې د خپلواکۍ اعلانېدل دده له خوا وشو.

تر سياسي خپلواکۍ دمخه د امان الله خان دوې مفکورې څرګندي دي:

الف: د ملک پرمختګ

ب: د بېل شوو افغانانو او د هند د مسلمانانو پلوي. البته ده په دواړو کې کوم بری تر لاسه نه کړ، خو افغانانو ته ئې لوړ حيثيت و باخښه. ځکه دده تيوري په ملي فلسفه کې څرګنده وه. يو امريکايي ليکوال (Leon Poullada) داسې وايي، چه: «د افغانستان خلګ د امان الله خان د اصلاحاتو مخالف نه وه، خو بهرني حريفان او قومي مسايلو د نه پاملرنې په وجه ناکامه شو.»

(وګ.)

Poullada Leon B: ۱۹۷۳ Reform and Rebellion in Afghanistan, ۱۹۱۹ - ۱۹۲۹, King Amanullah’s failure to modernize a tribal society. Ithaca/London

له بلې خوا دده په اداره کې باکفايته خلګ وار له واره کمېدل. په پای کې ملي احساس کمزوری کېدی او دا چه د ملي تيوری ګانو ځای بهرنيو ايديولوژی ګانو ونيو په نتيجه کې د ۱۹۹۲م کال له شرمېدلي حالت سره مخامخ شولو.

له ټولو خبرو مخکې مونږ بايد په دې اتفاق ولرو، چه مونږ دغه تاريخي افغانستان د يوه ارزښتناک ميراث په توګه ساتو او تاريخي اصولي مبدا او ملي مقدسات مو منلي دي، نو که د افغانستان د سياسی نظام ټاکل د هيچا واک اوصلاحيت نه دئ، مګر د لويې جرګې!

بهرني او کورني ليکوال او تاريخ پوهان دا خبره تائيدوي، چه د احمدشاه بابا نظام فدرالي ډوله ؤ، خو دوه توپيره ئې لرل.

لومړی د قوي مرکزي دولت وجود او دوهم دا چه په اوسني افغانستان کي، دې دوه نيم سوه کلونو کي اجتماعي، کلتوري او اقتصادي امتزا ج پر مخ تللی دئ عام خلګ ددې خبري ضرورت نه محسوسوي.

په افغانستان کي تقوا، شخصيت او مېړانه اهميت لري نه نسل، نژاد او دا چه څوک د افغاني هويت ساتونکي دي. له بلی خوا که په افغانستان کي قومونه، ژبي او نژادونه سته، نو اوس خو د افغانستانيانو شمېر هم لږ نه دئ. افغانستانيان هغه دي، چه د افغانستان مفهوم ته عقيده لري او فکر کوي، چه بېلو کلتورونو، ژبو او نسلونو افغاني نوی مفهوم جوړ کړی. په يوه دسترخان د شمال، جنوب، مشرق او مغرب ډوډی ګاني ليدل کېږي؛ چپن، پکول، څپلی سره يوځای شوي ملګري شوي. ژبه که پښتو او که دري ده مشترک مفاهيم او لغات لري. د ودونو په حساب نسلونو امتزاج موندلی دئ. مونږ يوې نوي مرحلې ته ور داخل شوي يو، چه د قوم او ژبي د مسألې پورته کول به پر شا تګ وي نه پرمخ تګ. افغانستانی هغه څوک دئ، چه ځان نه پښتون بولي او نه تاجک، او نه داسي نور... بلکه افغان بولي.

## اخستځيونه


١- ګنډاسنګ، درانی احمدشاه

٢- غبار، افغانستان د تاريخ په بهير کي

٣- لئون پولاډا، اغتشاش او اصلاحات

۴- ويليم فلور، د اصفحان سقوط او د محمد افغان پورته کېدل

۵- راز، بيا لويه لوبه او افغانستان

۶ - ريتا جوشي، اشرف افغان او مغل

٧- حبيبي، د افغانستان پېښن ليک

٨ – د تاريخ هنګامه

# شرمېدلی تاریخ

د پردیو ایډیولوژي ګانو له راتګ سره او د ښاري ژوند له ښه کېدو سره داسي خلګ را پیدا شول، چه سم دم ئې د ژوند ښه کېدل غوښتل او دې هدف ته د رسېدو لپاره ئې ټول ارزښتونه تر پښو لاندي او د لیونیو په څېر یې هري بې ناموسی (شخصی او ملي) ته ملا وتړله. خارجي نوکری هم شروع شوې.

په نتیجه کي خدای خبر، چه د پردیو شا ته څومره خبري او دسیسې وي، چه په پای کي روسان راغلل. د افغانانو د مقاومت په دوران کي (۱۹۷۹- ۱۹۸۲م) امریکې ته دا فکر پیدا شو، چه د شوروي اتحاد د راپرزولو لپاره ئې ښه عسکر موندلي دي. زمونږ له بدي ورځي څخه امریکې بده ګټه واخستله.

پاکستان، چه دا حال ولید، نو داسي یې جوړه کړه، چه د افغانستان تاریخ، ملي احساس او فلسفه پاتي نه شي. د اسلام تر نقاب لاندي ئې خلګ وړاندي کړل، و یې جنګول، بداخلاقه یې کړل، استعمال ئې کړل. روسان په ۱۹۸۹م کي ووتل او د نجیب الله حکومت په ۱۹۹۲م کي د اپریل په میاشت کي مات شو. د پښتنو پرضد د شمال ازبک، تاجک، هزاره ګانو، غیرپښتانه پرچمیانو اعتلاف جوړ کړ. د نجیب الله څلوېښت تنه جنرالان ئې ووژل (د بین المللي عفوي ټولنه)، وریسې پنجشیریان او هزاره ګان هم کابل ته ننوتل، ازبک په لومړی مرحله کي راغلي وه. دادی د ملي یوالي مزی وشلېد. کابل ددوی لاست ته ورغلو، پاکستان خپل د پېښور نمایندګان ورولېږل، هغه چه ددوی په لاس جوړ شوي وه. اسلام، کلتور، انسانیت هرڅه تر پښو لاندي شول. وژني، چورچپاول، بې ناموسی د اندامونو پرې کول. .. د بشریت شرمېدلی تاریخ جوړ شو.

نور د افغان د مشرانو تیوری ګاني یومخ ختمي شوې. خلګ بې خبره او اقتصادي مسایل دا وخت د سیاسي اغراضو سره یوځای شوي وو. له خلګو یې هرڅه هېر کړل. د کابل نیمایي نه زیاتي ودانی ختمي شوې. د موزیم پاتي برخه آثار هزاره ګانو وایستل ایران ته ئې ورسول. کتابونه ئې وسوځول. ښځي یې په کور کېنولې. کله چه د ۱۹۹۲م کال د اګسټ په لسمه حزب اسلامي بې شماره راکټونه - په یوه نیم ساعت کي شپږ سوه – وویشتل، نو د

یوه معمولي اټکل له مخې په یوه ورځ کې یو زر اته سوه کسان مړه شول. وزارتونه چور شول، پوهنتون د حزب وحدت بندي خانه شوه، مکتبونه قرارګاوي شوې. خلک د شمال او مشرق خوا ته مهاجر شول په لارو، جوماتو اوکورونو کې سر په سر پرېوتل. پرده او حیا ورکه شوه. په کابل کې احمدشاه مسعود د پنجشېر قومندان او د دفاع وزیر یوازي له ځان دفاع کوله. رباني د جمعیت اسلامي مشر ځانته جمهور رئیس وایه، خو دولت ئې معلوم نه شو. لارې کوڅې په وینو ولړل شوې، بوی او تعفن پورته شو، مرضونه پیدا شول. (د بي بي سي راډیو د سپټمبر ۱۳مه لمړی پروګرام). د څنباک اوبه او برق نه وو. د کابل خلګو، چه خپل کورونه او بازارونه ئې د روسانو د یرغل په دوران کې هم نه وو پرېښي بېله کوم پلان څخه ووتل. لاهم د پاکستان زړه نه ؤ سوړ. سرحد به یې کله تاړه او کله خلاصاوه. روغتونونه له زخمیانو ډک وو. درمل نه ؤ. خارجي ډیپلوماټان، اودملګروملتونو کارکونکي اودسره صلیب روغتونونه له کابله ووتل. په کابل کې څوحکومتونه وه. د مرکز او ولایتونو اړیکي شلېدلي وې. خو یو شمېر عرب، ایرانیان او پاکستانیانو په کابل کې هر یوه د خپلو دولتونو او حزبونو لپاره لګیا وه فعالیتونه یې کول. شرمېدلي ورځي وې او د افغان په کور ویر ګډ ؤ.

د امریکې مشهوري ورځ پاڼي واشنګټن پوسټ د همدغه کال د جولای د میاشتي په شلمه دا خبر خپورکړ. چه جهاد د(سي،آی،اې) له خوا ؤ. دا خبره په ډاګه شوه، چه د افغان د جهاد په نامه پیسې، اسلحه، خوراکي مواد، ادبیات، شعارونه هرڅه (سي،آی،اې) ورکول. یعني جهاد ددوی تر رهبری لاندي ؤ. او دغه رهبران ددوی جوړ کړي خلک وو. خو که څوک دقیقه مطالعه وکړي دغه وسلې او پیسې، چه (سي،آی،اې) ورکولې د هغه لویه برخه په پاکستان کې پاتې شوي او جنګ د افغانستان خوارو خلګو کړی دئ او ډېره لویه قرباني یې ورکړې ده. سربېره پردې د جهاد د رهبرانو نږدې خپلوان د مخدره موادو د قاچاق په لړ کې په نیویارک کې بندیان وو. دغه خبره د مخدره موادو د کالني کانفرانس یوه غړي وکړه (۱۹۹۲م). د آینه افغانستان مجلې د همدغه کال د اګسټ په ګڼه کې د رهبرانو د میلیونو ډالرو شتمنی وښودلې، چه دوی د خپل ځان لپاره ذخیره کړې دي. له دې حالاتو داسي معلومیږي، چه د افغان د ملي تاریخ د فلسفې په مقابل کې دغه ټیټ او فاسد، شرمیدلي او بې عزته خلک زرغون شول، چه څه د روسانو او څه د امریکې نوکران وو. د

اګست په ۲۳ مه عزیز الله واصفي په واشنګټن کي په یوه کنفرانس کي وویل، چه: وجدان د کمونیزم له خوا واخستل شو پاتي یې د اسلام په نامه لاړل. په پای کي نه اسلام ؤ نه کمونیزم، یوازي خیانت، وطنفروشي او غلا وه.

اوس د افغان د بچي دا وظیفه ده، چه خپل دغه شرمېدلی تاریخ هغه له ویاړه ډکو تاریخونو په څنګ کي ولولي او پند تري نه واخلي. د وفا جریدې په خپله ۲۱ مه ګڼه (د میزان ۸ مه ۱۳۷۱ ش) کال کي په افغانستان کي د فرهنګي وضعي تر عنوان لاندي ولیکل چه: کله چه مجاهدین راغلل هر تعمیر د بېل تنظیم د مسلحو قواوو لخوا اشغال شو او نظامي بېل بېل حکومتونه پکې د قوماندانانو تر اداري لاندي تاسیس شول. سربېره پر دې لابراتوارونه، شخصي کتابخانې، شخصي نقدي پیسې، چه پوهانو په خپلو مېزونو کې لرلې، قالیني، موټرونه او د دفتر لوازم او نور تخنیکي شیان چور شول. او له دفترونو څخه د مجاهدینو لپاره لیلیې جوړې شوې، د اکاډمی له یوه تعمیر څخه، چه د امیر عبدالرحمن خان د مېرمني شاببو جاني استوګنځی ؤ او دیوې آبادی شکل یې لاره، ټولي حکاکي لوکس شوي دروازې او کړکۍ وایستل شوې او له فرنیچره سره یوځای یوړل شوې. قدنما هنداري، چه ډېري پخوانۍ وي ماتي شوې او آن زلزله معلوموونکی او ټیلیکس ماشین هم یوړل شو. د مکتبونو او پوهنتونونو بدبختي دا وه، چه دوه ځله وځپل شول. د ثور کودتاچیانو اخوانیان وبلل او بندیان یې کړل او مجاهدینو کمونسټان.

د تاریخ له پلټني داسي څرګندیږي، چه په افغانستان کي که ملي مشر او که د پادشاه په نامه یاد شي خلګو سره د ملي مشر رویه لري او د نورو شرقي او غربي هیوادونو د پادشاهانو په توګه نه وي. پادشاه په افغانستان کي باید د خپلو خلګوسره وګوري او بنه بې تکلیفه وضع ورسره وکړي. د هغوی کلیو ته لاړ شي او هغوی سره کېنېني او ډوډۍ ورسره وخوري. د افغانستان خلګ له پادشاه سره آزادي خبري کوي.

د افغانستان لپاره سیاسي ګوندونو مصیبتونه راوستل ځکه، چه خارجي ریښې ئې درلودې. افغانستان یوه عنعنوي ټولنه ده. د تعلیم او اقتصاد پړاونه په مخ کي لري. هیڅوک به مونږ د ځمکې له کرې (کره) ونه شړي که مونږ ملي مشر یا پادشاه ولرو.

په شرمېدلي تاریخ کي ولیدل شول، چه کمونسټان د روسانو نوکران وو. په نورو کې څوک د پاکستان، څوک د ایران، عربستان او غربي هیوادونو لپاره لګیا وو. ملي خلګ تش لاس

پاتي شول. که افغانانو د روڼ فکری یا اسلام پلوي کړېده دواړو په لومړي سر کي، مسلمانانو او روڼ فکرو خلګ پرېښبودل، چه د شاهي دولت سره مبارزه وکړي. کله چه موضوع توده شوه بیا نو دواړو خواوو خپل جېبونه له خارجي پیسو ډک کړل، میدان ته ننوتل بیا خبره توپونو او ټانکونو ته ورسېده. اوس دغه دور باید تېر شي او وروسته پاتې کېدل به منو. دا به هم وشي، خو د راتلونکې لپاره باید لاره راڅخه ورکه نه شي.

په نولسمه پېړی کي د انګلیس او روس د رقابت په نتیجه کي مو امپراتوري لاړه. په شلمه پېړی کي د ساړه جنګ قرباني شوو. نو ترکله به دا نخرې پر موږ کېږي. یوازی تاریخ او تاریخي مبدا مونږ ته نجات راکولی شي.

# د اسمايي تصوير

جان جان څنگه جنگونه په کابل کېږي
څه اوښکي ويني فوارې شوې دلته
څه توري زلفي او خماري سترگي
په دې باروتو کې خورې ورې شوې
څه د شملو بازار مې سور غوندې شو
څه د گلونو رنگينه ښکلا مې
په دغه کلې کي په غم واوښته
وای وای دا څه ظلمونه په کابل کېږي
جان جان څنگه جنگو په کابل کېږي
څه سپينې خولې له خنداگانو ډکې
څه په نازونو نازولې کاته
له نازولو نه مرگی اخلي
څه د ماښام د غريبانو آدې
د عاشقانو عارفانو څنگ کي
د سرو مردکو د بازار کريږو آرامي کړلې
وای وای څه گوزارونه په کابل کېږي
جان جان څنگه جنگو په کابل کېږي
څه پښتنې په سفر وخوځېدې
تناکې پښې په هغو لارو اوړي ژاړي ژاړي
څه د تاجکي نجلی ناز نامراد شو
چه له دې کلي مسافره درومي
خدايه گناه ئې څه ده څه ئې کړي؟

چه د سالنګ او جګدلې شمالٔ ئې
د سره سالو پيڅکې په ناز رېوي
وای وای څه فريادونه په کابل کېږي
جان جان څنګه جنګونه په کابل کېږي
څه د مرګونو قافلې راغلي
څه قافلې د مرګ څپو کې لاړې
چه بې ګودره په دې لاره راتلې
څه دروغجن په رښتياينه راغلل
څه رښتيانې په دروغجنه لاړل
څه آبادی په کنډوالو واوښتې
څه ترانې د ماشومانو چوپ شوې
کنډر کنډر کوڅې سړی ډارېږي
زمونږ د مينې د کابل په ښارکي
په يو تورتم باندي اوښتي يو موږ
کله چه نيمه شپه له خوبه جګ شې
او د کابل آرام زړګې ته غوږ شې
نو يو رنځور شانته زګېروی به واورې
وای وای ناحق جنګونه په کابل کېږي
جان جان څنګه جنګونه په کابل کېږي
کله چه نيمه شپه له خوبه جګ شې
او آسمايې په خوبولي نظر ښه وګورې
نو يو تصوير به درکړي
يو تاج محل به ګورې
د تورو تورو مرمري ډبرو
چه په کي سرې لمبې اورونه بل دي

له نېکه مرغه پدې ورستیو کلنو کې ډېرې لیکنې رامنځ ته شوې، چه د پښتنو او افغانانو تاریخ روښانوي.

د اتلسمي پېړی په سر کې په آسیا کې ښېل هیوادونه وو. سربېره پر چین او روسیې د هند مغلي امپراتوري، صفوي دولت او عثماني خلافت. افغانستان په دغوامپراتوریو او لویو طاقتونو کې راښکېل ؤ، خو د اروپا لپاره د اسیا حالات په زړه پوري وه. ځکه دوی اومه مواد او تجارت په دې خوا کې لیدل. نو کله چه میرویس بابا صفوي دولت ته ماته ورکړه (۱۷۰۹) په ۱۷۲۲ م کال د صفوي دولت سقوط د افغانانو له خوا داسې وړه پېښه نه وه. همدارنګه د عثماني لښکرو ماته د افغانانو له خوا او یا د پیټر د وخت د روسانو د لښکرو ماته د افغانانو له خوا داسې پېښې وې، چه د اروپا مطبوعاتو او لیکوالو ډېر کتابونه د افغانستان، افغان، غلځو، میرویس، محمود او کندهار په باب ولیکل، نو ځکه اوس دا دوره زمونږ څخه پټه نه ده.

# پښتانه او ددوی لرغونی تاریخ

په کال ۱۷۶۰م کي چه احمدشاه بابا د پاني پت په جګړه کي پر دریو لکو هوسا وسله بندو لښکرو بری وموند، په دغه وخت کي اروپایانو لکه انګرېزان او فرانسویان جنوبي هند ته د تجارت په نامه رسېدلي وو.
ددوی و دغه جګړې ته پام ؤ. او دا چه یو لږ شمېر افغانان، چه ګڼون ئې دېرش زره تنه بلل شوی دئ څنګه پر دومره لوی لښکر بری وموند، ددوی د اندیښنې وړ وګرځېد.
دوو خبرو دوی ته زښته زیات اهمیت لاره: د احمدشاه بابا حربي لیاقت، دوهم د افغانانو بې باکه جنګیالي.
له دغه تاریخ وروسته د افغان او پښتون په باب ددوی څېړني پیل شویدي. کله چه په ۱۸۱۹م کال الفنسټن د انګلیسي ډلي مشر د اعلیحضرت شاه شجاع حضور ته په خاصو مراسمو کي مخکي شو، بیا نو دغه سړي د کابل د سلطنت په کتاب کي د پښتنو په برخه کي ددوی له خولې یو لږ خبري ولیکلې. یعني هغه څه، چه ځینو پښتنو په همدغه وخت کي د خپل تاریخ، قوم او تجربو په باب ویل. بیا دوی هغه ومنل. خو خبره داده، چه الفنسټن یو عسکري جنرال ؤ او انګلیسي لیکني د پښتنو په برخه کي د تاریخ پوه یا ژبپوهاند انسان پېژندونکي له خوا نه وې. دوی مسیحي مبلغین، جاسوسان یا عسکري خلګ وو. مخکي عربو لیکوالو کلمات معرب کړي وو، وریسې ایرانیانو د پښتنو د تاریخ ونه او څانګي مغشوشي کړې. څکه دوی لیک او لوست کاوه، خو مونږ دا چاري نه کولې.
له همدې وجې پښتانه یا د قیس عبدالرشید اولاده یا بني اسرائیل بلل شوي. خو په ورستیو کلونو کي علمي څېړني پر یو لږ اصولو رابرسېره شوي، چه میتود ورته وایي. یعني وروستی څېړني پر اصولو او میتود ولاړي وې.
مونږ ناڅاپه وپوهېدو، چه درې زره کاله دمخه تر میلاد د پښتنو د قومونو ذکر راغلی دئ. دغه د ژبپوهني او سړي پېژندني څېړني وې. مونږ ئې په دې وپوهلو، چه هغه کتابونه، چه

پښتانه ئې د قيس عبدالرشيد يا بني اسرائيل اولاد بللي باید فسخ کړو، چه پر علمي اصولو ندې ولاړ.

که په تاريخ کي راغلي، چه د ساک يا ساکا قوم آريايان قوي او زړه ور خلګ ؤ او بيا د جنوب په لور له مرکزي آسيا يا د توري بحيرې له څنډو وخوځېدل او بيا په جنوب کي لکه کابل، ننګرهار، پکتيا او وزيرستان کي د ساکو قوم او ځايو نومونه اوس هم سته، نو ځکه دا شک پاتې کېږي، چه ساک به هم هغه ساک نه وي، چه د سيستان په تاريخ کي ئې د سيستان مدنيت مخکي له اسلامه درلود.

لومړی دا چه د پښتنو ژبه اريايي ده دا خبره ثابته ده. د جسماني جوړښت له مخي آريايان دي او د قبيلو نومونه ئې هم هغه دي. نو د پښتنو تاريخ درې زره کاله مخکي له ميلاده ځي او وروسته له هغه چه عيسی (ع) پيغمبر پيدا شو دوه زره کاله نور شول او ټول پنځه زره کاله کېږي. اوس به د خبري تفصيل ته وردننه شو.

دايران په زاړه تاريخ کي راغلي دي: د بابل پياوړی دولت د هيت له خوا ړنګ شو. د هيتانو دولت په بابل کي دوام ونه کړ. ځکه، چه کاسيانو له هيتانو سره جګړه پيل کړه او هغوی ئې له بابل څخه وشړل او په خپله ئې د کاسيانو پادشاهي جوړه کړه او ددغه قوم پادشاهي، چه له اصله آريايان وه، نږدې شپږ سوه کاله دوام وموند (۱۷۶۰ نه بيا تر ۱۱۸۵مخکي له ميلاده). د کاسيانو په زمانه کي له آس څخه بيا د ارابې د راکشولو لپاره کار اخستل کېده. مخکي له دې دا هم ويل شوي دي، چه آريايان له ختيځې او شمال ختيځې لوري ايران ته ننوتلي او په ايران کي يو ډول خلکو ژوند کاوه، چه د قيافې او د تمدن له حيثه ټيټ وه او ايلاميان بلل کېدل. آريايانو هغوی ته (ديو) يا (تور) ويل او د هغوی د ورکولو په هڅه کي وه.

اوس که پاملرنه وشي، نو کاسي څوک نه پېژني؟ ديو، تور دا کلمې په کوم ژبني موزيم کي پرتې دي؟ ښکاره ده، چه پښتو ده. او دا چه وروسته دغه قومونه کاسيان نومېدل، اريايي نژاده وه. د جنوب په لوري وخوځېدل ببله کومه شکه همدغه اوسني کاسيان دي، چه په کويټه، کندهار او ټول افغانستان کي موجود دي.

د سيستان د تاريخ په څېړنه کي اډمونډ کليفور باسورث ليکي: «سيستان خپل نوم له ساکو يا ساکا څخه اخستی دئ. دغه خلګ هندو- اروپايي وه، چه په چينايي کلنی کي ياد شوي

او د کاشغر په سیمه کي اوسېدل، چه په لودیځ کي باکتوریا ته رسېدل. د هغه خوا د هخامنشیانو او یونانیانو آثار تر شپږمي پېړی مخکي تر میلاد یا شپږ پېړی مخکي تر عیسی پیغمبر (ع) د ساکا یا ساکو یادوونه کوي، چه جنوب ته خوځېدلي دي. او دوی پېړی مخکي له میلاده له باکتریا او جیحون له پورتو برخو څخه و جنوب ته د درنګیانا (زرنج) او اراخوسیا (کندهار او زمینداور) ته ور کډه شوي وه.». د سکا ډېر خلګ د افغانستان په جنوب کي ځای پر ځای شول او خپل نوم ئې هغه سیمي ته ورکړ، چه سکستان نومیږي. عربو هغه سجستان کړ. په پای کي سیستان شو. سکا زړه ور او پیاوړی قوم ؤ.

ساکو ډېر ځله د پارتیانو په چارو او ځمکه کي مداخله وکړه. د پارتیانو پادشاه، درېیم فرهاد (۱۲۷نه تر۱۳۶ مخکي له میلاده) له ساکو وغوښتل، چه د هغه مرسته د سلوکیانو، چه ددوی مشر آنتیوخوس نومېده وکړي. خو وروسته ئې ونه شو کولای، چه د خپلو شرقي ملګرو څخه ځان خلاص کړي او د هغوی په لاس ووژل شو. په ۷۶ مخکي له میلاده سکانو یا ساکو، اشکاني شهزاده سنتروک، چه ددوی خپل سړی ؤ، پادشاه کړ. د ساکو زغره وال سپاهیانو د روم پر سردار کراسوسو بری وموند ( ۵۲ میلاد نه مخکي). د اسلام راتګ سره د ساکو ټولي خاطرې له مینځه ولاړي.

کله چه دغه را اخستني ته پاملرنه وشي، نو څرګندېږي، چه سکا همدغه ساک، سهاک دي، چه اوس هم موجود دي او د پښتنو یو لوی او پیاوړی قوم دئ. سربېره پر هغه د ډېرو علاقو نوم ساک دئ. سکزی هم همدغه قوم دئ، چه تېر تاریخ پرې ځلانده دئ او په ۲۷۲م کال کي ئې په سیستان کي د سکانشاه په نامه حکومت کاوه او د غزنویانو تر دورې پوري دغه خلګ د خپلو تورو سره په بازارونو کې ګرځېدل (وګ. یاقوت ۱۴۲مخ). همدا راز ویل شوي، چه ساکو د ساسانیانو سره په جګړو کې مرسته کوله (وګ. د سیستان تاریخ).

له تاریخي څېړني څخه د ساک او ساسانیانو نږدېوالی څرګندېږي، چه ساکو له ساسانیانو سره مرسته کوله، چه ۱۷۲۲م کال کي شاه محمود هوتک په اصفهان کي پادشاه ؤ دده سکه وړور شاه حسین هوتک په کندهار کي، چه دواړه د میرویس بابا زامن وه. داسي ښکاري، چه د ساک او ساسان همدغه شکل دئ، چه که خدای (ج) کول وروسته به په دې باب خبري هم وشي.

همدغه ډول واقعه د احمدشاه بابا په وخت کي وشوه: داسي چه احمدشاه بابا له ډهلي تېر شو او اګرې ته ورسېد يو بل غلجی پښتون آزاد خان افغان د آذر بايجان حکمران ؤ. د آزاد خان افغان او احمدشاه بابا اختلاف په دې ټکي کي ؤ، چه آزاد خان ويل، چه احمدشاه بابا دي پادشاهي د ميرويس بابا کورنی ته پرېږدي. احمدشاه بابا دا کار ځکه نشوای کولای، چه جرګې اجازه نه ورکوله. آزاد خان، کريم خان زند، او محمد خان قاجار د ايران د نيولو په هڅه کي وه، او درې واړه د يو بل رقيبان وه.
ډکټور ګنډاسنګ وايي: کله چه آزاد خان افغان وفات شو، نو احمدشاه بابا ډېر خواشينی ؤ. دلته بيا د دو پښتنو لاس سره ورنغلی. په همدې توګه احمدشاه بابا د غوريانو، غلجيانو، سوريانو، لوديانو پرتاريخ خبر ؤ، نو ځکه ئې ويلي ؤ:

د حميد او فريد دور به بيا شي　　که زه وکاندم په هرلوري تاختونه

دېنه مخکي خوشحال خان ويلي ؤ:

و مغلو ته به هغه چار ښکاره کړم　چه راضي راڅخه روح د فريدخان شي

يعني هم خوشحال بابا او هم احمدشاه بابا دواړو نوميالیو د فريدخان (شير شاه سوري) په مقابل کي د مسووليت احساس کاوه. د هغه معکوس، چه اوس پښتانه د هيچا په مقابل کي د مسووليت احساس نه کوي.
له حميد څخه د احمدشاه بابا مطلب سلطان عبدالحميد لودي د هند امپراتور دئ، چه په شرق کي ئې سلطان باله.
مطلب دا شو، چه دا ساک او ساسان خبره ذهن ته لوېږي، چه لومړی دواړه اريايي او له ختيځ څخه لوديځ په لور خوځېدلي يا په اوسني حساب له افغانستان څخه ايران ته تللي او دوهم دا چه يو له بله سره ئې مرسته کوله لکه، چه مخکي وويل شوه. په تاريخ کي راغلي، چه د «ماد» قوم يو سړی « ديااکو» په نامه په خپله مشری وټاکه. هېرودوت وايي دياکو د يوه بزګر زوی ؤ، چه د خلګو شخړي به ئې په عدل او انصاف سره فيصله کولې.

وروسته له یو څه موده د دیااکو شخصي کارونه ډېر شول او له دې کاره ئې لاس واخیست. بیا غل غدوی پیدا شو خلګ راټول شول او دی ئې خپل پادشاه وټاکه.
دلته دوې خبرې د پاملرنې وړ دي یوه دا چه «اکو» داسي یوه کلمه ده، چه په پښتو او په تېره بیا په کندهار کي اوس هم مروجه ده او دغسي یو سړی ته، چه ښه رویه ولري او د خلګو شخړي حل کړي اکو وایي. دوهمه خبره د څه اصولو پر بنا د شخړو فیصله کول.
کاکو، اکو دواړه ژوندی کلمې دي او له دیا څخه د دیاني کلمه موجوده ده. دیا که دده نوم وي نو اکو ئې لقب دئ. په ژبپوهنه کي د ډېر لږ ورته والي نه هم یوې نتیجې ته رسېږي. حال دا چه ساک، سهاک، سکزی، تور او اکو پر خپل حالت پاتي کلمات دي. که څوک په امریکا کي د جاپانیانو انګلیسي ویل واوري نو ډېر توپیر لري. مونږ دغه کلمات د نورو له خولې اورو لکه عرب، یوناني یا چینایي. نو که چینایي الف نه شي ادا کولای او ساک سکه ووایي بیا سکا شي یا دا چه هندیان کاسي ته کانسي وایي او له ځانه نون ورته زیاته وي داسي کېدای شي، خو زیاتره کاسي په عین شکل موجود دي.
ارواښاد میراجان سیال مومند په خپله رساله «د پښتنو شجرې»کي خرشبون خیرالدین او شرخبون ئې شرف الدین لیکلي او دواړه ئې په لوی لاس عربي کړي لکه څوک، چه مومند مؤمن الدین کړي. دا چه خلګ مومند موهمند یا مهمند لیکي دا خو ډېر شویدي. د پښتنو راتلونکي نسل ته ډېر کار پروت دئ لکه، چه خوشحال بابا په ۱۶۵۶م کال کي اشاره کړېده:

چا یې پلو له مخه وانخیست          پښتو لاهسي بکره پرته ده

خدای (ج) خبر، چه د هغه به څومره ټکو ته پام اوښتی وي، چه دا خبره ئې کړېده او څو نوري پېړۍ به لا بکره وي؟
دا د شخړو حل کول او سم قانون درلودل د پښتونولۍ سابقه نوره هم ډېره پخوا زمانو ته رسوي.
پښتنوپه خپلو شجرو کې ډېر نومونه د اسلامي احساساتو له مخي عربي او خپله شجره ئې ډېره محدوده کړېده. دا دومره عجیبه نه ده، خو دا به عجیبه وي که لیکوال هم دا کار

وکړي. سره له دې هم د قبايلو او قومونو نومونه هغه شانې پر خپل حال پاته دي او د پخوا زمانې لغتنامه ورته ويلی شو.
په پخواني تاريخ کي که کاسي ساک ياد شوي دا هم راغلي، چه د سکا يوه قبيله د دما په نامه يادېده او له دې څخه داسي ښکاري، چه دوی نور اړوند قومونه هم لرل.
زه و دغي خبری ته هک حيران يم، چه څنګه بېلو پښتنو قومونو يو عنوان د پښتون په نامه ځانته غوره کړ او ټول تر دغه نامه لاندي راټول شوي. دا دوی ډېر معقول کار کړئ، چه پښتانه هم هغه پکهت يا پکتويس، چه په ريګويدا کي راغلي او هېرودوت هم ياد کړي او يا لکه غبار چه ليکي باکټريا، پاکتيا، پکتون، پکتانه، پښتون، پښتانه شول.
په لرغونو زمانو کي افغان هم دوی ته ويل کېده، خو پښتنو خپل دغه لرغونی نوم له نورو قومو سره، چه په غم او ښادي کي ورسره يو ځای دي شريک کړ او د افغانستان د فلسفې په تکامل کي ئې اوږده لاره ووهله.
کله چه په ۱۷۲۲م کي اعليحضرت محمود هوتک ايران ته لاړ، نو ده ته ئې پښتون محمود او يا هوتک او غلجی محمود ونه ويل هغه ته ئې افغان محمود ويل.
د هالنډ واک کمپنی، چه دغه وخت ئې په ايران کي تجارتي فعاليت کاوه او ۱۳۶۷م کال کي ددغه شرکت ورځني واقعات، چه په حقيقت کي د ايران ددغه وخت پېښې دي په دوه ټوکو کي خپور او په ټولو کي افغانستان او افغان راغلی دئ. ( وګ. ويليم فلور، افغان اشرف د اصفحان پر تخت باندي، ۱۳۶۷، تهران.) او هم دا رنګه (ويليم فلور، د صفويانو سقوط او د افغان محمود عروج، ۱۳۶۵، تهران.). همدا راز احمدشاه بابا ئې افغان بللی دئ. خو زمونږ ليکوالو ويل، چه د افغانستان نوم يوازي په نولسمه پېړی کي ياد شوی دئ. ځيني ليکوال د افغان نوم تر پښتون لاهم پخوانی ګڼي.
لنډه دا چه مونږ په خپل پنځه زره کلن تاريخ کي، افغان ملت او پښتون قوم لرو. هغو پښتنو، چه په هندوستان کي اوه سوه کاله پادشاهي کړېده لکه غوري، سوري، لودي، غلجي، ابدالي، د هند په تاريخونو کې له لسمې پېړی څخه تر اتلسمي پېړی پوري ټول د افغان په نامه ياد شويدي، خو پخپله ځينو افغانانو ويل، چه د افغانستان نوم خراسان ؤ او په تاريخ کي ئې داسي شی مونده نه کړ پرته لدې، چه خراسان د لوی افغانستان يو ولايت دئ، چه اوس د ايران تر قبضې لاندي مشهد او نيشاپور په خراسان کي تر هراته پوري،

هرات، هري، هروي، هريوا بيا بل ډېر پخوانی نوم دئ، چه مونږ دلته د هغه تفصيل نه راوړو.
هغه خلک، چه خراسان د افغانستان پخوانی نوم بولي بېخي هيڅ دليل نه لري. دا يوه احساساتي خبره ده، ځکه افشار نادر د خراسان ؤ، د ځينو خلکو مطلب دا ؤ، چه د هغه پادشاهي د احمدشاه بابا لاس ته ورغله او اوس د خراسان پادشاه دئ.
په ۱۷۵۰ کال کي، شاهرخ د افشار نادر لمسی، د خراسان په مرکز يعني مشهد کي د احمدشاه بابا له عنايته سکه ووهله او رايجه پيسه وه.

او د سکې شجعه داسي وه:

يافت از الطاف احمد پادشاه
شاهرخ بر تخت شاهي تکيه گاه

د احمد پادشاه له لوريني ئې وموند
شاهرخ پر شاهي درشل ځايگی

پښتانه په آسيا کي يوازني خلک دي، چه د تېري کونکو يرغلگرو مخي ته درېدلي دي. دا ډېر اوږد بحث دئ، چه پښتانه سکندر، عرب، مغل، انگرېزانو او روسانو ته پاڅېدلي دي. په اولسمه پېړۍ کي د بايزيد روښان او خوشحال خان، ايمل خان، درياخان جگړې د هند د مغلي امپراتورۍ سره او په اتلسمه پېړۍ کي د ميرويس بابا جگړې له صفوي دولت سره او بيا د انگرېزانو سره پنځه دېرش لويې او وړې جگړې، د عربو سره په اوومه پېړۍ کي جگړې ... څومره چه تاريخ کتل کېږي، بل قوم ددغه يرغلگرو مخي ته نه دي درېدلي.
ما دا بحث ځکه لنډ کړ، چه وروسته دوه نوري خبري دي: د افغانستان د ملي فلسفې تيوري گاني او پښتونولي. نو پښتانه ځلميان کولای شي، چه پر دغو خبرو کار وکړي او هغه وپالي.

# پښتونولي یا پښتون اوسېدل

په کال ۱۹۶۰ م کال کي ما یوه رساله د (پښتونولي د لاري مشال) تر سرلیک لاندي لیکلې وه. دغي رسالې د مطبوعاتو د رحمان بابا لومړی جایزه تر لاسه کړه. بیا دغه رساله د پښتو ټولني له خوا واخستل شوه او هلته محفوظه وه. اوس ۱۹۹۲م کال کي اورېدل کېږي، چه دغه رساله د اسلامي مجاهدینو لخوا له منځه تللې ده.
په داسي حال کي، چه له هیواده لیري پروت او د منابعو د نشت والي سره مخامخ یم، بیا هم څومره، چه په پښتو او پښتونولي پوهېږم د خپلو معلوماتو او د هغو نژدې اړیکو پر بنسټ، چه د پښتنوسره مي لرلې، یو ځل بیا مي دغه موضوع ولیکله چه که خدای (ج) کوله د کوم بل ناتار ښکار نه شي.
په هغه رساله کي، وروسته له هغه، چه پر څرګندو ایډیالوژي ګانو بحث شوی ؤ، پښتونولي بیان شوې وه. مطلب دا چه پښتونولي هم یوه لاره ده، که پښتانه پښتونولي خپله کړي، بلې نظریې ته ئې ضرورت نه پاتې کېږي.
 اروانباد خان عبدالغفار خان به ویل، چه «پښتون نه کمونسټ کېږي.» دده مطلب هم دا ؤ، چه پښتونولي یوه نظریه ده او پښتون د بلي نظرئې و اخستلو ته اړ نه دئ، ځکه په پښتونولي کي د یوې متمدني ټولني ښېګڼې شته او په ډېرو برخو کي لوړ اصول لري، چه انساني کرامت او ملي اندېښنې دواړه په خپل ځان کي لري. یو هندي لیکوالي (ریتا جوشي)، چه پر پښتو لیکنې کړي دي وایې: «پښتانه په هند کي له خاورو راپورته شول او امپراتوری یې جوړي کړې.»
هغه پښتانه، چه د نیستی نه به د هند پر لوري تلل ددوی سره به خپل اصول وه. ددوی نیستي به، چه لږ غونډي لیري شوه، بیا یې مېلمه ساته، مرسته ئې کوله، ولاړ به ؤ ملګري به ئې موندل. د خپلو ملګرو سره به ئې په خیر او شر کې ګډون کاوه، نو روځ په روځ به ئې حیثیت لوړېده. خان شو، ملک شو، پادشاه شو، امپراتور شو.

یو پښتون، چه په پښتونولي پوهېدی، دغې پوهي په هره ټولنه کي دده درندوالی خلګو ته ښوده. که د انګرېزانو دومره اوږده دوره پر هند نه وای راغلې هند او ټوله ختیځه سیمه به ودانه او بسیا وه.

پر پښتونولي ډېر څه نه دي لیکل شوي او پښتونولي یو غیرمکتوب قانون دئ، لاره ده، اصول دي په پای کي مکتب دئ او ایډیولوژي ده.

د کابل په کالنی کي ډېر کلونه پخوا عبدالرحمن پژواک یوه مقاله لیکلې وه، بیا استاد قیام الدین خادم یوه رساله ولیکله، چه چاپ شوېده. اروابناد وزیر محمد ګل خان مومند په (لنډکی پښتو)کي یو ځغلنده نظر پر پښتونولی کړیدئ.

نو په دې صورت کي منبع په خپله پښتانه دي او ددوی د ټولني د جوړښت بنه ده. له دوی سره ژوندکول او ددوی د زړه خبري اورېدل ددوی خپلمنځي اړیکي او د ټولني نظم په داسي حال کي، چه دولت هم نه وي موجود، عدالت، امن، راکړه ورکړه هرڅه سم او په عقل برابر وي. په داسي حال کي، چه ما پښتانه لیدلي دي ددوی د مشرانو، ځوانانو سره په مینه ناست یم، نو له ځانه کولای شم پوښتنه وکړم او ځواب ولیکم.

په پښتونولي کي هره اصطلاح یو تفسیر لري، چه له هغو څخه د پښتونولي مجموعه جوړېدای شي او په سړه سینه کار غواړي. په حقیقت کي د پښتنو ټولنه یو دولت لري او دغه دولت ددوی له طبعیت څخه خپله بنه اخلي. د پښتونولي پر هغه برخه خبري نه کوم، چه جزایي بڼه لري او خلک ئې نرخونه بولي. هغه سم قانون او له بل هر قانون څخه په عدل برابر دئ.

اعلیحضرت احمدشاه بابا، چه په ۱۷۴۷ م کال کي پادشاه شو، دده د دولت ټول اصول پر پښتونولی ولاړ ؤ، چه ډوکتور ګنداسنګ هم هغه ته ګوته نیولې ده. د مثال په توګه د انسان د اندام یوه برخه پرې کول منع ؤ، یا لورته د میراث نه ورکول، د هغه لپاره بېل دلیلونه ویل شوي: لکه یوه نجلی، چه خارجي مېړه وکړي، د افغانستان پانګه دباندي وړي. یا دا چه د میراث دپاره به د شتمن لور هرڅوک غواړي او د نېستمن لور به څوک نه کوي. په لور د پلار د شتمنی د حاصلاتو برخه هرکال اخستی شي او که چیري لور او خور نېستمن وي د هغوی اعاشه کول د ورور او نورو خپلوانو لخوا حتمي ده. مګر د پلار د شتمنی د خرڅولو او تصرف حق په داسي حال کي، چه مېړه ولري، نه لري. وروسته کله چه

پلار مړ شي، نو زومان خپلي مېرمني وهڅوي، چه میراث واخلي. بیا نو کورني ارزښتونه تر پښو لاندي شي او نفاق او تیت و پرک کېدل پیل شي. د کورنۍ تود ماحول سوړ شي او نېستي مخه وکړي. وروستي پادشاهانو د احمدشاه بابا د دولت یو یو اصول ددې له پاره چه ملایان خوشحاله کړي مات کړل، چه په نتیجه کي اصول په قومونو کي پاتې شول او دولتونو د شخصي ګټو لاره ونیوله.

جرګه — د مهمو مسألو د حل لپاره لویه جرګه
جرګه دوې برخې لري: جرګه مار او سپین ږیري

مشر — د جرګې په خوښه ټاکل کېږي

اربکی — د امنیت د ساتلو او د جرګې د فیصلو د تطبیق دپاره

کامي لښکر — د ضرورت په وخت کي د جرګې په فیصله

کام — خان — عالم او روحاني

کسبګر — تاجر — ګاونډ — ډم او ډمامه

یادونه: هرڅوک، چه د پښتني ټولني ښه صورت او د پښتونولۍ سمه او بشپړه تشریح وکړي د زیاتي خوشحالۍ ځای دئ او د لیکونکي لپاره به د یوې مرستي ښه ولري حتا پر ځان ئې احسان بولي.
ق. حداد

# د پښتونولۍ ځیني اصطلاحات

| | | |
|---|---|---|
| ۱ - کام، کامولي | ۲ - مشر | ۳ - خان |
| ۴ - سپین ږیری | ۵ - جرګه | ۶ - اربکی |
| ۷ - اشر | ۸ - سیب | ۹ - شومه |
| ۱۰ - سیمه، سیمه ورکول | ۱۱ - مېلمه، مېلمه پالنه | ۱۲ - دود |
| ۱۳ - تیږه | ۱۴ - روغه | ۱۵ - ننواتي |
| ۱۶ - ژبه | ۱۷ - بدرګه | ۱۸ - لمن |
| ۱۹ - شمله | ۲۰ - بربت | ۲۱ - پګړی |
| ۲۲ - ټکری | ۲۳ - پلو | ۲۴ - ګرېوان |
| ۲۵ - ږیره | ۲۶ - ښځه | ۲۷ - نارینه، نارینتوب |
| ۲۸ - بد، بدي، بدل | ۲۹ - ننګ | ۳۰ - پت |
| ۳۱ - بړغ | ۳۲ - چیغه | ۳۳ - ناره |
| ۳۴ - وینا | ۳۵ - سیال، سیالي | ۳۶ - عزیز، عزیزولي |
| ۳۷ - تربور، تربورولي | ۳۸ - اوږه | ۳۹ - ښېګڼه |
| ۴۰ - رښتیا، ریښتین | ۴۱ - دروغ، دروغجن | ۴۲ - پور |
| ۴۳ - ګوند، ګوندي | ۴۴ - ولاړ | ۴۵ - پاځون |
| ۴۶ - پریوتی | ۴۷ - بسپنه | ۴۸ - توره، توریالی |
| ۴۹ - توره، تورن | ۵۰ - ناورین | ۵۱ - ډزي |
| ۵۲ - ډول | ۵۳ - اتڼ | ۵۴ - ډمامه |
| ۵۵ - خندا | ۵۶ - ژړا | ۵۷ - ګاونډ |
| ۵۸ - سړی، سړیتوب | ۵۹ - سپک کتل | ۶۰ - پېغور |
| ۶۱ - عالم او روحاني | ۶۲ - ډېره او هجره | ۶۳ - له ښې وتل |

**۱ - کام، کامولي**

د کام مفهوم تر قبيلې پورته دئ، کله کام د ملت په معنیٰ راځي. کله چه د پښتون کام وويل شي د ملت معنیٰ ورکوي يا په دري ژبه کي وايي قوم افغان. د غرونو په چاپېريال کي بېلي قبيلې يا نژادونه اوسېږي، چه ګډې او مشترکي ګټي يا تاوانونه لري. تېر او راتلونکی ژوند ئې په يو ډول حالاتو کي وي، دلته نو بيا د کام او يا قوم ټکي استعمالېږي.
کامولي د هغه اړيکو لړۍ ده، چه په خوشحالي او خفګان کي سره يو له بله اوږه ورکړي او په ګډه هغه تر سره کړي. کله چه پښتانه کام وايي په دې کلمه کي د ګرانښت او صميميت او همدردۍ مفهوم نغښتی دئ. دوی هرومرو خواخوږی سره ښيي، چه همدغې خواخوږۍ ته کامولي وايي. پښتون پر کام مين او د کام د سرلوړۍ او هوسايني لپاره قرباني ته ولاړ وي. وايي « پښتون ئې مه بوله، چه د کام انديښنه ورسره نه وي».
پښتون هرومرو د کام او کامولی په فکر کي وي او داسي کارنه کوي، چه کام ته ئې مادي يا معنوي تاوان ورسېږي. وايي « ته څنګه پښتون ئې، چه د کام غم درسره نشته» يا وايي، چه: « خدای (ج) مکړه خپل کام ته به مخ توری شم.» پښتون، چه کام ته بد واړوي د جرګې لخوا دده د بد په اندازه جزا ورکوله کېږي او کله ئې د قام له قطاره وباسې او وايي « څه د کام سړی نه ئې!». يعني کام دده مسؤليت نه اخلي، ملاتړ ئې نه کوي او نه مرسته ورسره کوي. وايي « کام بد بللی» او هيڅوک حق نه لري، چه د هغه سره مرسته وکړي، که ورور ئې هم وي.

**۲ - مشر**

ډېر خلک له ليري داسي فکر کوي، چه مشر او خان به دواړه سره يو وي، خو په عمل کي مشر د کام يو پوه او سپېڅلی سړی وی، چه کام بشپړه ويسا ورباندي لري او د سپين ږيرو او توربږيرو لخوا ټاکل شوی وي. مشر د کام د حالاتو ځان خبروي، د ښو او بدو پوښتنه کوي. هغه مسايل، چه په پښتونولي کي څرګند وي په خپله فيصله کوي او د مناقشې وړ وي د سپين ږيرو جرګې ته ئې سپاري او سپين ږيري ئې د جرګه مارو په مرسته حل کوي.

**۳** - خان

هرڅوک، چه شتمني ولري خان بلل کېږي. بلکه خان هغه څوک دئ، چه خپله شتمني له خلګو سره شریکه کړي او خاني وکړي. د کام مشر په ښځو وختونو او غیرمترقبه پېښو په وخت کي د کام له خوا نه دا غوښتنه کوي، چه د خپلي شتمنی او دوستانو په مرسته د کام لپاره ودرېږي. کله داسي هم وي، چه خان او مشر یو سړی وي. دا په هغه صورت کي، چه خان د بشپړي پوهي او تجربې خاوند وي او جرګه ده ته دواړي وظیفې وروسپاري.

احمدشاه بابا د یوه ملي یا کامي دولت مشر ؤ. په حقیقت کي دی او دده دولت پر داسي اصولو ولاړ ؤ، چه د کام له فطرت سره سم ؤ. دده کالي او خواړه ساده وه. ده د انسان د اعضاو پرې کول منع کړه. ده له کسب سره علاقه درلوده او په توپ جوړولو کي استاد ؤ. د ورزش او ادبیاتو سره ئې مینه درلوده. عادل او بې تعصبه ؤ، چه دده پښتني خصوصیات یا پښتونولي په تاریخ کي راغلي. دلته مطلب د یوه مشر خصوصیات دي، چه پښتانه مشران په هره سویه، چه وي یوشانې وي.

که چیري له سلطان بهلول لودي نه تر شاه زمان پوري مطالعه شي، د پښتنو مشران یوشانې خصوصیات لري.

په پای کي پښتني لوی دولتونه یا واړه تر سیمه ایزي مشری پوري د ورته اصولو پابندي ده.، چه پښتونولي تمثیلوي.

خان جهان خان لودي ددې لپاره پادشاهي ونه منله، چه ده په خپلو زامنو کي دغه استعداد نه لیده، نو تر پادشاه پیاوړی مشر ؤ.

د مشر او خان توپیر که په دولتي نظام کي وکتل شي مشر د جمهور رئیس حیثیت لري او خان د صدراعظم.

همدغه د پښتونولی لاري چاري وي، چه پښتانه لومړی په هند او بیا افغانستان کي چټک د دولت په جوړولو بریالي شول. خان، خانان، لوی خان، خان علوم هغه لقبونه وه، چه د پادشاه یا مشر لخوا ورکول کېدل. که د پښتنو په سیمه کي دولت هم نه وي، نو د پښتونولی پر بنا بیا هم هغه مشر، خان، جرګه، اربکی او لښکر موجود وي.

**۴** - سپینږیری

د پښتونولۍ د اساساتو له مخي سپین ږیری د تجربو او خاطرو یوه ګنجینه بلله کېږي. سپین ږیری سپیني خبري کوي. سپین ږیری له هر مسامحې خلاص وي او پرته له حق ویلو او د حق پلوي بله لاره نه نیسي. نو ځکه د کام سپین ږیري د سنا یا د عیانو د جرګې حیثیت لري او تل له خپلو تجروبو او خاطرو ځوانانو ته هدایتونه ورکوي او ځوانان هم په پوره اخلاص د هغوی خبرو ته غوږ نیسي او د هغه خبره د یوه مأخذ په حیث استعمالوي، چه:« زمونږ سپین ږیرو دا خبره کړېده » یا« یوه سپین ږیري داسي ویلي دي » سپین ږیري نه یوازي هغه خبري، چه ددوی خپلي تجربې او د سترګو لیدلي حالات دي، ځوان کول (نسل) ته انتقالوي، بلکه هغه کیسې او نکلونه هم کوي، چه دوی له خپلو پلرو او سپین ږیرو څخه اورېدلي دي. څنګه چه په پښتني ټولنه کي د لیک، لوست، چاپ او خپرونو وسایل لږ دي، نو ټول اصول، خبري او پېښي سینه په سینه رانقلېږي.

**۵** - جرګه

دا یوه پخوانۍ خبره ده، چه جرګه یا شورا د مشورې، فیصلو او اصولو د وضع کولو یا قانون جوړولو مرکز دئ. پښتانه د جرګې غړي له پخو، پوهو او ریښتینو خلګو څخه ټاکي او جرګې ته په هغه معاملو باندي پوره واک ورکوي. چه جرګه بشپړ واک او صلاحیت ونه لري خبري نه کوي او فیصله نه صادروي. که چیري د جرګې کومه فیصله ونه منل شي او اجرا نه شي، نو جرګه منحله کېږي او ښایي، چه بیا له سره جرګه وټاکل شي.

د جرګې غړي باید د پښتونولۍ پر ټولو اصولو او مقرراتو وپوهېږي. که چیري په یوه سیمه کي د یوې معاملې فیصله ګرانه شي، نو له نورو سیمو څخه جرګه مار راغوښتل کېږي. که چیري د کام معاملې سختې شي، یا بهرنی یرغل وي په هغه صورت کي د نورو سیمو سپین ږیري او د جرګو مشران او پوهان راغوښتل کېږي. لویه جرګه جوړېږي او د جنګ اعلان، اوربند، د بدو حالاتو د مخنیوي لپاره لویه جرګه، حکومت یا یو شمېر مشخصو خلګو ته، چه پوره لیاقت او کفایت ولري مسؤلیت ورسپاري.

جرګه کله په دوو برخو ووېشل شي او هره برخه یوه خاصه وظیفه پر غاړه اخلې. خپل سري او مطلق العناني په پښتنو کې ځای نه لري. د جرګې هر غړی مکلف دئ، چه خپل د کار

تفصیل او یا هغه کار، چه د خپلي پوهي له مخي په یوه تنګ وخت کي کړئ وي جرګه خبره کړي. داسي چه وخت ډېر نه وي پکي تېر شوئ. په حقیقت کي جرګه د قدرت مرکز دئ، مشر د جرګې لخوا ټاکل کېږي. خان هم جرګې ته مسؤل دئ. که چیري خان یا مشر خپل سري وکړي یا ظلم، زیاتی، غرور، بې پروایي او بداخلاقي، جرګه کام پر دغو خبرو خبروي. او کام د جرګې نه مشوره غواړي. جرګه کام ته خپله فیصله اوروي. البته جرګه مشر او خان ته مخکي تردې چه کام خبر کړي خبرداری ورکوي، چه ځان اصلاح کړي.

جرګه د کام ځني خلګ د راتلونکو جرګو لپاره روزي. داسي چه دغه خلګ په جرګه کي کښېني، خو د خبرو یا فیصلې حق نه لري. مګر دا چه جرګه له دوی نه پوښتنه وکړي، نو په دغه صورت کي ئې خبري اورېدل کېږي. بیا که ددوی پر خبرو خبري کېږي، نو دوی باید د جرګې ځخه ووزي.

د جرګې عدلي او حقوقي مسایل، چه په ذات البیني اړیکو کي پېښېږي، د یو محکمې شکل غوره کوي یا جرګه دغه مسایل یو څو کسو ته سپاري، چه پر عدلي او حقوقي مسایلو غور وکړي او له خپلي فیصلې جرګه خبره کړي، چه وروستی حکم د جرګې لخوا صادرېږي.

## ۶ - اربکی

د اولس له تکړه ځوانانو ځخه په مساوي صورت یوه ډله انتخاب شي، چه د جرګې فیصلې عملي کړي؛ پور له پوروړي واخلي او د کام خلګ د جرګې فیصلو ته راوکاږي، امنیت وساتي، چه دغه اربکی که د ضرورت په وخت کي له بېلا بېلو سیمو ځخه راوغوښتل شي د یوه لښکر بڼه غوره کوي. اربکی د کام او جرګې په خوښه هغه اجراآت تر سره کوي، چه د وخت ضروت وي. اربکی یوازي هغه کارونه کولای شي، چه جرګې ورسپارلي وي. جریمې هم د اربکي لخوا اخستل کېږي. جزایي مسایل، چه ډېر تفصیل لري او په دغه لیکنه کي ندي ذکر شوي د اربکیو په وسیله عملي کېږي. د پښتونولي جزایي حقوق دومره په دقت سره وضع شوي، چه هیڅ قانون به ونه شي کولای، چه له هغه سره سیالي وکړي.

**۷ - اشر**

په پښتنو کي د عامه خدمتونو لپاره اشر کېږي. د مثال په توګه د جومات، لاري، ويالې، عمومي کاريزونه، د تفريح ځايونه ... په اشر جوړېږي. داسي چه ټولو ته خبر ورکړل شي، چه سبا ددغه کار لپاره اشر روان دئ. بيا نو له هره کوره يو سړی که کور ګڼ وي، نو دوه سړي د کار لپاره ورځي او کارکوي. اشر په خوشحالي، خندا، ډول او ډمامو سره پيل کېږي او دوام کوي ترڅو هغه کار تر سره شي. هر څوک خپله ډوډۍ راوړي او په شريکه ئې سره خوري. د اشر ورځي دومره خوند لري، چه ډېر ځوانان له برخي او حسابه پرته په اشر کي برخه اخلې. ټوکي، خنداوي، سندري، د اشر په جريان کي د هرچا شوق د کار لپاره پاروي.

د اشر بل شکل د کونډو، يتيمانو، او بوډاګانو کارونه په اشر د کلي او اولس د ځوانانو لخوا سرته رسيږي. دغه کارونه د کور جوړول، کولبه، د ژمي د سون لرګي او نور داسي کارونه دي، چه دوی پخپله ئې د سرته رسولو توان نه لري.

هغه خلک، چه د خپل دروند کار لپاره لکه د يوې لويي ډبري ايسته کول يا د وني د وهلو يا د څا د کيندلو دپاره مزدور نه شي راوستلای، نو د اشر لپاره ږغ وکړي. په دغه صورت کي د اشر خلکو ته ښه ډوډۍ ورکوي. اشر ډله ايز کار دئ، چه د اولس دښېګڼي لپاره تر سره کېږي.

**۸ - سيب**

په پښتونولۍ کي سيب د امن منطقه ده. په خپل سيب کي نيول د يو سړي، کورنۍ، ډلي يا مال په خپل سيب کي ساتل دي، چه د جرګې لخوا نه د يوه امين سړي نه غوښتل کېږي، چه دغه سړی، نجلی، ښځه، يا مال په خپل سيب کي د يو ټاکلي مودې لپاره وساتی. چه په دغه صورت کي نوموړی امين سړی ټول مسؤليت په غاړه اخلي کوم چه ورسپارل شوی دئ. سړی يا مال په سمه توګه وساتي حتا که سړی وي په سيب کي بايد خوشحاله وي. سربېره پر کالو او ډوډۍ ئې سهار او بېګاه د صحت او خوشحالۍ پوښتنه هم کېږي. په سيب کي سړی خفګان ته نه پرېښودل کېږي. د هغه سره خبري کېږي، چه مشکل او مسايل ئې په کومو صورتونو کې حل کېږي. که ښځه وي، نو د کور ښځي خبري او خواخوږي

ورسره کوي او که نارینه وي، نو د کور نارینه ئې پوښتنه او ګروېږنه کوي. په سیب کي پوره مصؤنیت موجود وي او د چا حیثیت ته هیڅ ډول صدمه نه رسېږي.

**۹ - شومه**

شومه د ژوندي پاتې کېدو دپاره د هرچا حق دئ. په پښتونولي کي اولس هغه چاته شومه ورکوي، چه معیوب، زاړه، شتمني ونه لري او یا ماشوم او سرپرست ئې نه وي د شومي حق لري، چه اولس ئې ورکړي.

که بې شومي خلک خپل خپلوان ولري نو دا مکلفیت لري، چه خپلو بې شومه خپلوانو ته شومه ورکړي. دا په پښتنو کي پېغور دئ، چه ددغه سړي خپل بې شومي ګرځي او که چیري نږدې خپلوان ونه لري، شومه د اولس لخوا په خورا خوشحالی او په مقرره اندازه ورکول کېږي. د پښتنو په سیمه کي څوک بې شومي نه پاته کېږي. په پښتني دولت کي بې شومي خلک له هر ډول مالیې او اخستنی څخه معاف دي. سربېره پر هغه مرسته هم ورسره کېږي. که چیري د بې شومي خپل دغه مسؤلیت په غاړه وانخلې جرګه حکم کوي، چه شومه ورکړي. که بیا دغه کار ونه کړې د شخص اعتبار په اولس کي راټیټېږي او دده خبري او هیلي د دوهمي درجې اهمیت پیداکوي. او که بې شومي سړی ناروغ یا مړ شي یا په بل آفت ئې سر شي، نو خپلوانو ته ئې سربېره پر پېغور، چه ورته پاته کېږي د یوه بې همته او بې پښتو په حیث خپل اعتبار بېخي له لاسه ورکوي. او د پښتنو د نورو سیمو په خلګو کې اعتبار نه لري. نو پښتانه په دقت د شومي مطالعه کوي، چه بې شومي څوک پاته نه شي. ځکه شومه د بې شومي حق دئ.

په پښتونولی کي د نېستمن سړي لپاره دغه مرستي کېږي، چه شومه ترلاسه کړي:

الف - که نېستي موقتي وي د یو کال غله او پوښاک ورکول کېږي، چه په دوه یا دریو کلونوکي به ئې بیرته ورکوي.

ب - که ځمکه د کرني لپاره ونه لري یو څه ځمکه ورته ورکول کېږي یا شاړه ځمکه په اشر ورته آبادوي.

ج - که کسبګر وي یا تجارت کي مهارت ولري د ریز په نامه نقدي پیسې ورته ټولېږي. ددې لپاره چه روغ رمټ سړی په سیالی کي وروسته نه شي او خپله شومه په خپله تر لاسه کړي.

۱۰ - سیمه، سیمه ورکول

پښتانه د ضرورت په وخت کي سیمه غواړي. د مثال په توګه سېلاب، وچکالي، یا بل کوم آسماني افت لکه زلزله ... چه پیدا شي پښتانه دغسي خلګو ته سیمه ورکوي. د جنګ یا ظلم له لاسه پښتانه راغلو خلګو ته سیمه ورکوي. دغه سیمه په لومړي سر کي دوه غوره شیان دي: د اوسېدو لپاره ځمکه، که کورونه موجود وي، کور او د هغوی د امنیت ساتل. دلته په نوي سیب کي ددې خلګو په غاړه وي او دښمن نه شي کولای، چه ورپسي راشي او که داسي وشي پښتانه د سیمه ورکړشوي خلګو دپاره په کلکه جګړه کوي خو د سیمه اخستونکي ملاتړ کوي او دښمن ته ئې په لاس نه ورکوي. د پښتنو په سیمه کي، چه چا سیمه اخیستې وي، هغوی محفوظ دي که څه هم د جرم په اثر ئې سیمه اخېستې وې او خپلي سیمي ته تر یوې روغې او فیصلې نه شي تللای. په پښتونو کي د سیمي ورکول یو اصل دئ، چه کله د سیمي ورکوونکي په تاوان تمام شي او تاوان ځاني او مالي وي او له حده زیات هم وي. خو پښتانه دغه اصل ساتي.

۱۱ - مېلمه، مېلمه پالنه

مېلمه په پښتونولی کي ځانګړی اهمیت لري. پښتون باید مېلمه ولري، چه دده د ښې ګذارې او ښو اړیکو نښه ده. د مېلمه په لیدو خوشحال کېدل د مېلمه احسان منل او وایي «کور دي ودان، چه زما مېلمه شوې». که مېلمه د کوربه پوروړی وي، نو دغه یادونه په کور کي نه ورته کوي، چه د مېلمه خوابده شي. که د دین اختلاف موجود وي بیا مېلمه د دین په باب هم خبري نه کوي. که له اصله او کسبه کښنته وي او یا سالم غړی ونه لري، نو د هغه خبري هم نه کوي، چه د مېلمه پام خپلي کمبودی ته وانه وړي، ړانده ته د ړنا او ګوډ ته د منډو ... خبري نه کوي.

هرخوراک، چه په کور کې وي هغه مېلمه ته ږدي. که په کور کې توده او سړه ډوډۍ وي او مسافر راشي توده ډوډۍ ورکوي او سړه په خپله خوري.

پښتانه له مېلمه څخه پوښتنه نه کوي، چه کله بیرته ځي. کله چه مېلمه په کور کې وي د کور خلک په لوړ غږ خبري نه کوي او ترخې خبري هم نه کوي او ترڅو، چه مېلمه په کور کې وي د کور جدي مسایل هم نه طرح کېږي.

د مېلمه د ناستې او څملاستې ځای پاک او ستره وي. په ورین تندي خبري او کیسې مېلمه ته کوي. دښمن هم که د مېلمه په توګه د چا کره لاړ شي، په ښه توګه ئې هر کلی کوي.

مېلمانه ساتل د پښتنو لپاره یو حتمي خبره ده. څوک چه مېلمه ونه لري اعتبار یې په اولس کې نه وي. پښتون که هرڅومره نېستمن وي بیا هم مېلمه پالي. هر چیري چه پښتانه اوسېږي که پردی وطن وي او دئ د کار کولو او مزدورۍ لپاره تللی وي، بیا هم بې مېلمه وخت نه تېروي.

### ۱۲ - دود

په پښتونولۍ کې دود پراخه ماناوي لري: دود معلومو کړووړو ته وايي. پښتانه په دود ولاړ دي کوم دودونه، چه دوی ته له پلرو پاته دي هغه ساتي. وایي: دا دود دئ، دا دودونه دي. دا زمونږ دود دئ دا زمونږ دودونه دي. مونږ دا دود لرو، یا یې نه لرو. دود د کالیو په اغوستلو کې، ودونو کې، د دوستانو په پالنه کې، د واده شویو لوڼو او خویندو په پاللو کې دودونه ښکاره او تفصیل ئې لکه جزایي قانون زیاته څېړنه غواړي او بېل فصل دئ. د مثال په توګه د خور، خورلڼي پوښتنه په داسي حال کې، چه مېړه ئې شتمن وي، خو خپله ښځه ښه نه ساتي یا پرته له دې چه په ښځه ئې ګناه وي د مېړه لخوا ظلم ورسره کېږي ددې د پوښتنې دود سته، چه له ښو او بدو ئې ځان خبر کړي. که د ښځې ګناه وي نو خور، خورلڼي ته نصیحت کوي. او که ئې نصیحت ته ئې غوږ ونه نیسي، نو بیا ئې پوښتنه نه کوي. که ښځه پلار ولري نو بیا ئې پوښتنه کوي. که پلار ونه لري بیا ئې ورور پوښتنه کوي، که ورور ونه لري نو بیا یې اکا او یا ماما پوښتنه کوي که هغه هم نه وي بیا دا حق د نورو نږدې خپلوان دئ. که هغه هم نه وي د کام سپین ږیری ددې پوښتنه کوي. د پښتونولۍ په لاره د ښځې پوښتنه هرومرو کېږي. دودونه په هره مسأله کې معلوم دي، چه

په مجموع د خارجي ټکي یعني کلتور څخه پراخه معنا لري او هغه څوک چه ځانته د پښتونولی حق ورکوي او یا د پښتونولی پر بنا دا حق لري، نو مسؤلیت هم لري، هغه دا چه ځیني مشکلات او ربړونه ورته حل کړي. کېدای شي، چه یوه برخه ئې اقتصادي وي.

**۱۳** - تیره

تیره اینبودل هغه فیصله ده، چه د اولسونو ترمنځ کېږي او یو لړ مقررات وضع کېږي، چه دواړه خواوي په هغه عمل کوي. په هغه شخړو کي، چه د کام ترمنځ پیدا شي. جرګه د شخړي دواړو خواوو ته اعلان وکړي، چه د جرګې تر فیصلې پوري اوربند وکړي بیا موضوع د دواړو خلکو په منځ کي، چه د استازو حیثیت لري څېړل کېږي یا که جرګه وغواړي د دواړو خواؤ د ادعاګانو تر اورېدو وروسته دوی له جرګې څخه وباسې او د جرګې ګډون کوونکي بحث پیل کړي. تر فیصلې وروسته تیره اینبودل کېږي، چه له هغه څخه هیڅوک سر نشي غړولای او که څوک له هغه تېری وکړي بیا جرګه د تېري کوونکي ملاتړ نه کوي او له مقابل خوا سره خواخوږي څرګندوي. نو په پښتونولی کي تیره قطعي فیصله ده، چه تیره ماتېدای نه شي. وایي چه:« دلته تیره داسي اینبودل شوېده، چه په ځنګله کي څوک مال نه پیائي ».

هیڅوک د پښتنو په سیمه کي څوک نه شي وژلای او که دا کار وکړي، نو د پښتنو پورووړی دئ او هرومرو بدل ځني اخستل کېږي. دا هم تیره ده، نو تیره د فیصلې او مقرراتو نوم دئ، چه له پخوا زمانو څخه په پښتنو کې رواج لري. دا چه په تاریخي توګه څومره تیري اینبودل شوي، دا بېل کار او زیاته څېړنه غواړي. پښتنو له خپلو تیرو دښمنانو ته خبر ورکړئ، چه دغه زمونږ تیري دي، نو خوښه مو که راسره منئ ئې او که جګړې ته تیارېږي. داسي ښکاري، چه ډېرو تېري کوونکو ورسره منلي. او ددوی خپلواکي په خپلو سیمو کي تل خوندي پاته ده. وایي « راځئ چه تیره کېږدو وروسته تر دې هیڅوک به د مغلو منصب نه منې او نوکري به ئې نه کوي. »

**۱۴** - روغه

ددې کلمې مانا په پښتونولۍ کې اصلاح ده، چه د دوو سړیو یا اولسونو ترمنځ شخړه پیدا شي نو جرگه کښېني او جرگه ددوی تر منځ روغه وکړي. د روغې زیاته برخه د شخړې په نوعیت پوري اړه لري او ځانگړې مقررات لري. له روغې نه مطلب د کینو او زړه بدیو لرې کول دي او هغه زړه بدوالی، چه په ذات البیني رابطو کې پیدا شوئ، د روغې په واسطه لیرې کېږي. د پښتنو د ښو خصوصیاتو څخه یو دا دئ، چه روغه مني او نور په زړه کې څه نه ساتي. که په تمامه مانا روغه شوې وي، نو وایي : « مونږ روغه کړېده او نور زړه بدوالي ته دوام نه ورکوو ».

**۱۵** - ننواتي

پښتانه دغه روحي قدرت لري، چه په خپله گناه او غلطیو اعتراف کوي. د اعتراف په صورت کې مقابل لوري ته پخپله له څو کسو سپین ږیرو سره د ننواتي دپاره ورځي. ننواتي هم د موضوع په څرنگوالي پوري اړه لري. که موضوع درنه وي، نو رسۍ په غاړه، وابښه په خوله او چاړه په لاس کې اخلي. ددې کار مانا دا ده، چه ته یا تاسي کولای شي، چه ما لکه پسه حلال کړئ؛ دا ده رسۍ مې په غاړه کې ده. تاسې سره بد شوي، ستا حق تلف شوئ، مونږ اعتراف کوو. تاسي باید له مونږ سره روغه وکړئ او د روغې شرطونه په سر سترگو منو. دغه وخت که د انسان ژوند مطرح وي، چه ننواتي ومنل شي، هغه د وینې مسأله هم حل شي او د ځانگړو مقرراتو له مخې، چه د مال، ځمکې ... یا خپلوي په کولو یعني د خور او لور په ورکولو موضوع حل شي.

**۱۶** - ژبه

ژبه کول په پښتو کې یو مهم قدم دئ. پښتون، چه ژبه وکړي له خپلې ژبې نه گرځي په هر قیمت، چه پښتون ژبه وکړي هغه تر سره کوي او خپله ژبه نه پرې کوي. په پښتانه د تاریخ په رڼا کې د شېرشاه سوري په باب راغلي، چه راجاتو درمل ۱۶۴۵م سره شېرشاه سوري ژبه وکړه، چه که دی تسلیم شي، نو ده ته به امان ورکړل شي او و به بخښل شي. راجا تسلیم شو شېرشاه د راجا ښار ته ننوت. څو تنې مېرمنې، چه د بلگرامې ساداتو څخه وې

شېرشاه ته راغلې او خاوري ئې پر سر باد کړې او ويې ويل، چه ای شېرشاه، راجا زمونږ نارينه وژلي او مونږ ئې بې عزته کړي يو تا ده ته امان ورکړ او و دي باخښه. شېرشاه وويل: چه ما ژبه کړېده. مېرمنو وويل، چه زمونږ عزت او نارينه، چه ده وژلي دي څنګه کېږي. مونږ سيداني يو. شېرشاه سوري دغسي په دوو کي حيران شو، چه يوې خوا ته ئې ژبه کړېده او د بلي خوا، چه دا ظلم او بې عزتي، چه د ساداتو سره شوېده. نو يې په چيغو چيغو وژړل، چه يوې خوا ته د پښتانه ژبه او بلي خوا ته دغه ناروا. دغه حکايت په څرګند ډول ښيي، چه ژبه په پښتونولی کي څومره اهميت لري. شېرشاه سوري، چه پر زمري ئې وردانګل د ژبي په مقابل کي دومره ناتوانه شو، چه و يې ژړل.

## ۱۷ - بدرګه

څرنګه، چه اربکی او اشر ډله ايزي چاري سرته رسوي، بدرګه هم د کام د بااعتباره ځوانانو څخه جوړېږي. ددوی دنده دا ده، چه پښتنو له سيمو څخه مېلمانه، جرګه مار او نور داسي خلک، چه دښمنان ولري، لکه تاجران، مسافر ... تر خپلو سيمو پوري رسوي. د بدرګې بل صورت د احترام او عزت لپاره ځني خلک او ډلي خپلي سيمي ته راولي او بيرته ئې بيايي. بدرګه جنګيالي او وسله بند تکړه او زړه ور خلک وي. سربېره پر دې په پښتني اصولو او پښتونولی ښه پوهېږي. بدرګه داسي هم وي، چه که نجلی، مېرمني، يوازي يا څوکسه وي، نو په بدرګه کي څو سپين سري مېرمني هم وي، چه نجلی يا مېرمني خپلي سيمي ته ورسوي او له ټک څخه ها خوا خپله خلګو ته وسپاري. ځکه د پښتنو سيمه د پوره امنيت سيمه ده، چه په کار دي د پښتون په خاوره کي هيچا ته د سر او مال يا د عزت او پت تاوان ونه رسېږي.

## ۱۸ - لمن

وايي « د پښتانه لمن لويه ده » له دېنه مطلب دا دئ، چه پښتون زغم لري او هيڅ څوک بې څه نه پرېږدي. پښتون هر ډول مرسته کوي که د مال وي يا منډو، ځمکه ورکول، غله او په پای کي هغه چا سره، چه د پښتانه لمن ئې نيولې وي تر مرګه ورسره ولاړ وي. عفوه او بخښل هم په لمن کي راځي. لمن په دوو صورتونو کي استعمالېږي: لومړی، چه څوک د

پښتانه لمن ونیسي، نو ښکاره ده، چه څه غواړي او دوهم صورت ئې دا دئ، چه څوک پښتانه ته لمن ونیسي.
وایي، چه دغه سړی زما په لمن کي لوېدلی دئ او زه باید هرومرو دی وساتم. یا هغه سړی د دغه کور په لمن کي ستر شویدئ. په پښتونولی کي لمن پراخ مفهوم لري، چه ډېري خبري پرې کېدای شي.

## ۱۹ - شمله

په پښتونولي کي شمله د عزت او پت نښه ده، ځکه شمله دا مانا لري، چه پښتون د پښتونولی ټولو اصولو پرځای کولو ته چمتو دئ. که غیرت، که ننګ، پت او عزت دئ. پښتون خپله شمله ساتي که دده په مړینه هم تمامه شي. کله چه پښتون وپوهېږي، چه د شملې ساتل ورته ګرانه شوه، نو شمله ایسته کړي. نو خلک هم پوه شي، چه پر خپله ناتوانی ئې اعتراف وکړ او پوه شو، چه نور نو پر میدان نه شي درېدلای. پښتانه ځلمیان خپلي شملې جګي ساتي. دلته پښتون ځلمی د خپلي ځوانی په برکت شمله ساتي، او خانان ئې په بېلو امکاناتو لکه هستي، سړي ... او نور د هغه ساتنه کوي. پښتني مېرمني او پېغلي د خپل نارینه شملې ته ګوري او د هغو د شملو د ساتلو دپاره ډېري ستونځي ګالي.

## ۲۰ - برېت

برېت هم لکه شمله د نارینتوب نخښه ده. وایي: « ما چه برېت ساتلي، نو د وینو په تویولو ایسار نه یم.» په پښتنو کي داسي اصطلاح سته، چه: « دی داسي یو سړی دئ، چه برېت ئې په توره نه ماتېږي. » په پښتنو کي برېت د توري شکل هم لري. د برېت خریل لکه د شملې نه درلودل د یو راز ناتوانی نخښه ده. غټ او چنګ برېتونه ددې بېلګه ګاڼه شي، چه خاوند ئې هر میدان ته ور دانګلی شي او که چیري پښتون ځلمی پر شا راشي نو ورته وایي: دا برېت دي ولي پرېیښي.

## ۲۱ - پګړۍ

پښتانه پګړۍ تړي او شمله پرېږدي، خو پګړۍ نور مفاهيم لري. پګړۍ اخستل د خوشالۍ په وخت کي، چه چا ته واده شوی وي، نو نږدې خپلوانو ته، چه د واده په مراسمو کي ئې مرسته کړې وي پګړۍ ورکوي. دا که پګړۍ وي او يا د پګړۍ په نامه نور څه، آس، موټر، ځمکه يا باغ هم په پګړۍ کي راځي. خو دا د موضوع په اهميت پوري اړه لري، چه چا ته څومره پګړۍ ورکړه شي او دا په دې پوري اړه لري، چه چا ته څومره ګټه رسېدلې ده. په پښتونولۍ کي د پګړۍ تړل ډېره مهمه ده. د مشرۍ پګړۍ، د خانۍ پګړۍ، د پوهاندۍ پګړۍ ... د پګړۍ له سره ايسته کول د مصيبت څرګندول دي او پګړۍ په ځمکه دا مانا لري، چه ما مرګ ومانه او له خپله سره تېر شوم.

## ۲۲ - ټکرۍ

د نارينه پګړۍ او د ښځي ټکرۍ ډېري ماناوي لري. پښتنې، چه د مېړه له مرګه واوري ټکرۍ له سره ايسته کړي او وايي: « چه خاوري مي په سر شوې » ځکه، چه ښځه په پښتنو کي ناموس دئ. ټکرۍ هم اهميت لري. په ټکري کي هر څه ورکول کېږي. له ټکري نيولې، چه ټوکر دئ بيا تر باغه، ځمکي، دوکانه، کور ... د ټکري قيمت ندئ معلوم.
ښځه په پښتونولي کي يو فوق العاده موجود دئ. د ښځي ټکرۍ، د ښځي خواست، خبره، د ښځي عذر، تر نارينه ډېر لوړ دئ. د ښځي بې ټکري ګرځېدل دا مانا لري، چه څوک نه لري. ټکرۍ د حيا او عزت علامه ده. د ټکري ساتل د ښځي لپاره د ژوند اهميت لري څومره حيثيت، چه ښځه ئې په پښتونولي کي لري د نړۍ په بل هيڅ قانون کي ئې نه لري.
د احمدشاه بابا په زمانه کي(۱۷۷۲- ۱۷۷۴) کله چه بابا له يوه حربي سفر څخه بيرته را ګرځېده، لښکر يې کندهار ته نږدې تم شو. د يوه سپاهي ډېره تلوسه وه، چه کورته لاړ شي. د شپې ئې پښې سپکي کړې کور ته ولاړ. د سپاهي مېرمن، چه اينو نومېدله له سپاهي پوښتنه وکړه، چه بابا چيرته دئ؟ سپاهي ورته وويل: د بابا له لښکرو سره هلته شپه ده. بي بي اينو ورته وويل، چه نو ته ولي راغلې؟ سپاهي ورته وويل: چه زما و تاته تلوسه وه. بي بي اينو پلو پټ ونيو، چه بيرته به ځې د بابا او لښکرو سره به يوځای راځې. ته څنګه پښتون ئې، چه بابا او ملګري دي پرېښښي او ته ما ته راغلئ يې؟ سپاهي اړ شو، چه

بیرته عسکرځای ته لاړ شي. چه سپاهي لښکرځای ته نږدې شو، څاروالو ونیوه. سپاهی ئې احمدشاه بابا ته وروست بابا ورته وویل: حقیقت بیان کړه! سپاهی ټول هغه څه، چه تېر شوي وه بیان کړه. احمدشاه بابا یو کاریز، د باغو او ځمکې اینو ته په ټکري کي ورکړ، چه دغه کاریز اوس هم د اینو کاریز په نامه یادېږي او په دا وروستیو کلونو کي د اینو په نامه د نجونو ښوونځی هم وه. دا وه د یوه ټکري تاریخي کیسه.

## ۲۳ - پلو

د ښځي د ټکري ښی څنډه پلو نومېږي. په پښتونولی کي د ښځي پلو اهمیت لري. که ښځه چا ته پلو ونیسي او څه وغواړي پښتانه د ښځي پلو تش نه پرېږدي او حتا خون هم پرې بخښل کېږي. البته ښځه هم په ښځولی معروفه وي، چه ښځولي هم لکه نارینتوب ځانله تعریف لري. کله چه ۱۷۳۰م کي افشار نادر پر کندهار بر شو او د هوتکو پادشاهي په ایران کي ختمه شوه بي بي زینبه د اعلیحضرت شاه محمود محترمه خور، افشار نادر ته لاړه او پلو ئې ورته ونیو. افشار نادر، چه د پلو په معنا پوه شو، نو بي بي زینبې ته ئې ددې د کورنی بندیان په پلو کې ورکړل، چه پښتانه په هغه خوشال او د یوې مبارکې پښتنې پلو تش پاتي نه شو.

## ۲۴ - ګرېوان

په پښتنو کي ګرېوان د آبرو او عزت مانا هم لري. خپل ګرېوان ساتل مهمه خبره ده. ګرېوان خیرل د فریاد مانا لري. وایي: ګرېوان وساته، خپل ګرېوان ته د هرچا لاس مه پرېږده. یا وایي: ما خپل ګرېوان ورته څیري کړ، خو ده غوږ ونه نیوه. د پښتنانه ګرېوان ته که څوک لاس اچوي د رسوایي آخره درجه ده. پر دغي موضوع هرڅه حتا مرګ، ژوبله هم پېښېږي. پښتون خپل ګرېوان، شمله او برېت ساتي، چه د غیرت، عزت او حیا نښې دي. همدارنګه غیرت، عزت او حیا د پښتانه له خصوصیاتو څخه دي. پښتون، چه دغه خصوصیات ونلري پښتون نه بلل کېږي.

**۲۵** - رېږه
رېږه د نارينتوب علامه ده. کله چه جرګه فيصله وکړي او ټول هغه ومني، نو د جرګې غړي او نور پر رېږو لاس تېر کړي. رېږه په پښتنو کي ډېر اهميت لري. وايي: دا رېږه به زما نه وي که ما داسي ونه کړه. د رېږي نيول د بل چا له خوا د عذر او معافي غوښتلو مانا لري. که کومه غوښتنه په جدي صورت کوي، نو په ادب ور نږدې شي، په دوه ګوتو يې رېږه ونيسي او خپل دوې ګوتي ښکل کړي يعني، چه ستا رېږه مي ښکل کړه.

**۲۶** - ښځه، ښځولي
دا مو وويل، چه ښځه په پښتونولي کي هغه ارزښت لري، چه بل هيڅ موجود ئې نه لري. دا د کورنۍ محور ده. پښتانه د ښځي د عزت ساتلو لپاره په اسانه سر ورکوي، خو ښځولي هم لکه نارينتوب خصوصيات لري. ښځه د مېړه، او پېغله د کورنۍ عزت ساتي. ښځه د مېړه حوصله زياتوي او هغه ته روحي توان ورکوي. ښځه د کورنۍ، قوم، هيواد او اولس ټولي مادي او معنوي ګټي په نظر کي نيسي.
زرغونه انا رحمت الله عليها د احمدشاه بابا مور د افغانستان د تاريخ يوه لويه نمونه ده او ددې د شهامت، تدبير او پوهې کيسې ډېري دي لکه چه د نازو انا رحمت الله عليها دي. احمدشاه بابا غوښتل، چه د کندهار د ښار شاوخوا دفاعي خندق جوړ کړي. کله چه کار په زور او شور پيل شو، زرغونې انا دا غږونه واورېدل، نو پوښتنه ئې وکړه، چه څه خبره ده؟ چا دا پوه کړه، چه دفاعي خندق جوړېږي. انا امر وکړ، چه احمد ته غږ وکړئ، چه ماته راسي.
موظف سړی د احمدشاه بابا حضور ته ودرېد، چه انا مبارکه تاسي غواړي. احمدشاه بابا ورغئ خپلي مور ته په ادب ودريد، چه مورې څه امر دئ. د انا له خولې دغه مبارک الفاظ ووتل: « ای احمده! ته بايد دښمن د هيواد په سرحدونو کي ايسار کړې نه د کندهار په ښار کي». احمدشاه بابا، چه دا د غيرت او همت خبره واورېدله رنګ ئې سور شو او د مور له احترامه وروسته ئې د خندق کار ودراوه. « لاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم » دا څومره له مانا ډکه خبر ه ده، چه يوې پښتنې ښځي کړېده. ما، چه په پښتني مېرمني کتاب کي دا خبره ولوستله، نو هک حيران شوم، چه دا څومره عظمت دئ زما په انا کي. نو ښځه

ښځولي لري او نارينه نارينتوب لري. دبي بي اينو کيسه مو وليدله دا بېل فصلونه او بابونه غواړي، چه دغه ليکنه ئې ځای نه دئ.

**۲۷** - نارينه، نارينتوب

له دې دو کلمو سره هم ځيني مفاهيم مل دي. نارينتوب د پښتونولۍ د ټولو اصولو رعايت دئ. غيرت، پراخه لمن، زغم، سخا او ښښنه ... او په لسګونو نور صفتونه. نارينه بايد ګټندوی وي، د نارينتوب وقار ولري، زيړ، رښتين، په کالي اغوستلو کي ساده، زړه سواندی پر پښتونولۍ مين وي. کلک او زورور کارونه نارينه کوي.

**۲۸** - بد، بدي، بدل

هر هغه عمل، چه سړی، کورنۍ او ولس ته مادي يا معنوي تاوان ورسوي بد بلل کېږي. پښتانه بد نه کوي. په پښتونولۍ کي له بدو، بدي او له بدۍ بدل پيدا کېږي. بدل ضروري دئ که بدل نه وي بد نه ورک کېږي. د بدو له ورکولو لپاره بدل حتمي دئ. پښتانه هغه بدي، چه په روغه نه وي بدله شوي چا ته نه پرېږدي. او د روغي لپاره ډېري پولي سته، چه مخکي بحث وربانديي شوئ، خو که چا ږيره او پلو نه وي نيولي او ننواتي ئې نه وي کړي، نو بدي پاتې وي او بدل ورپسې را روان دئ. بدي په ښېلو اندازو وي د هري بدي لپاره ننواتي نه دي پکار. د پښتونولۍ سره سم د عذر غوښتل يا د تاوان ورکولو سره بدي ورکېږي. خپله ګناه منل او عفوه غوښتل په وړو مسايلو کي کفايت کوي، چه د څو سپين ږيرو په وروستلو سره هم روغه راځي. خو که دغه مراتب نه وي تر سره شوي بدي پر ځای پاتې وي که هرڅومره وخت، چه تېر شي بدي نه زړېږي او په خپل قوت پاته وي ترڅو چي د پښتونولۍ په اصولو حل شي.

د انسان ژوند په پښتونولۍ کي ډېر اهميت لري، چه قيمت ئې ژوند دئ. کوم سړی، چه څوک وژلی وي، بايد مړ شي. که ئې په ظلم او بې عزتي وژلی وي، نو کېدای شي، چه دوه تنه ځني ووژل شي. عجبه لا داده، چه په پښتونولۍ کي د قتل مسأله هم حل کېدای شي. حتا بدي په دوستي بدلېدای شي. د مثال په توګه د وژونکي له کوره، د وژل شوي

خپلوانو ته دوې ښځې ور ودې شي او روغه وشي. کومې ښځې، چه په بدو کي ور ودې شي د اولاد خاوندې شي د بدی ټول آثار له منځه ځي.

**۲۹** - ننګ

ننګ د پښتونولی ساتل دي او بې ننګي ئې د پرېښولو مانا لري. ځوک چه ننګ کوي هغه ننګيالی دئ. که د اولس يا سړي وقار ته صدمه رسېږي ننګ په کار دئ، چه تللې آبرو پر ځای شي. ننګ د هغو احساساتو مجموع ده، چه د سړي، ولس او هيواد ښېګڼې او برم تمثيلوي. په پښتني ادب کي د ننګ ټکي خورا زيات ليده کېږي.

په تور توپک ويشتلی راشې
د بې ننګی احوال دي را مه شه مينه!

پښتنه پېغله، مېرمن، يا ښځه خپل مين له ننګ سره غواړي او بې ننګي ئې نه شي تحملولای. ښځولي په پښتنو کي تر پايه په مينه ولاړ وي، خو شرط ننګ دئ. خوشحال بابا وايي:

د افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګيالی د زمانې خوشال خټک يم

همداسي خوشال بابا شکايت کوي وايي:

زه په ننګ د پښتانه يم
دوی نيولي مغلان

د پرديو نيول، د پرديو لاس پوځي بې ننګي ده او بې ننګه سړی پښتون نه دئ او حتا ښځه ئې په مېړه توب نه مني او وايي: « له بې ننګه سره ژوند له ژوند سره جفا ده.»

### ۳۰ - پت

دغه کلمه د عزت او وقار سره مترادفه ده. بې پته سړی لکه هیڅ چه نه لري په مادي او معنوي لحاظ پښتون باید یو څه ترلاسه کړي.

### ۳۱ - برغ

ددې کلمې معنا داده، چه په یوه برخه کي چا ته خبرداری ورکړه شي. وایي: برغ ورباندي شویدی اوځواب یا عکس العمل ته ناست وي. په ځینو برخو کي مقابل لور ته له خپل تصمیم څخه خبر ورکول دي.

برغ کله د اوآزې مانا هم لري. «مونږ داسي یو برغ اوربدلی دئ.» همدا ډول پښتانه، چه یوه خبره څرګنده کړي، نو وایي برغ ئې کړئ دئ. خو په عامه توګه د کام مشر، چه کوم وخت یوه مهمه موضوع اعلان کړي او کام خبر کړي، دې ته برغ وایي، چه زمونږ مشر داسي برغ کړیدئ.

### ۳۲ - چیغه

په پښتنو کي، چه ناڅاپه یوه ناوړه پېښه وشي او یا د دښمن یرغل وي، نو د چیغي په نامه ډولونه ووهل شي او خلک له خپلو کورونو څخه، که شپه وي او که ورځ راوځي، چه په چیغه ځانونه خبر کړي، چه ولي چیغه شوې. پښتانه په چیغه پوه دي، کله چي چیغه وشي نارینه وسله بند راوځي او ښځي سمدلاسه د دروازو په ټینګولو لاس پوري کړي. ځیني شیان خوندي کړي. غله او خواړه برابر کړي. ښځي هم له ټوپکو یا تومانچو سره برجو ته وخېژي او د حالاتو څارنه کوي. چیغه یو غیرعادي حالت ښیي او د چیغي ډول هم یو مخصوص صوت لري.

### ۳۳ - ناره

ناره هم لکه چیغه او برغ خاص مورد لري او په ادب کي راځي، لکه د هوتکو نارې، چه تېر حالات په نظم بیانوي. د بي بي زینبې ناره:

که سر دئ اصفهان د ملکو سر دئ
چه اصفهان لاندي کوي سيدال ناصر دئ

که څاڅي له شنه زړه مي ويني څاڅي
اصفهان پرون زموږ ؤ نن نادر ته پکې ناڅي

په نارو هم بايد پښتانه خبر وي. خدای ږو، د بي بي زينبي - (سلامونه دي پر هغې وي) - نارو پښتانه وپارول تر دې چه افشار نادر د يوه پښتانه په توره ټپي شو. له هراته تر کندهاره داسي جګړې وشوي، چه په تاريخ کي ساری نه لري. ناره په پښتنو کي، چي ډېر د پښتني مېرمنو او پېغلو له خوا وي ملي روحيه را ژوندۍ کوي او د ځوانانو ميني په جوش راولي.

که په ميوند کي شهيد نه شوې
خدای ږو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتينه

ګورئ دغه لنډۍ په حقيقت کي يوه ناره ده، چه د بي بي ملالۍ له خولې وتلې ده.

**۳۴** - وينا

وينا هغه خبري دي، چه په خاص مورد کي په منسجمه توګه وشي او بشپړ ملي او عامه مطلب څرګند کړي بيا پښتانه وايي، چه وينا وشوه. د مشر وينا په پښتنو کي د يوه دستورالعمل بڼه لري، چه پښتانه په دقت غوږ ورته نيسي او هغه تحليلوي. پښتانه وايي دا وينا مونږ ته شوېده او مونږ له هغې تېرېدای نه شو. په خاصو وختونو کي د پښتنو مشران کام ته وينا کوي او په خاص مطلب کام خبروي او لاره او علاج ورښيي. کله کام له مشر څخه وغواړي، چه پر اولسي مسايلو کام ته وينا وکړي، ترڅو کام خپلي لاري – چاري د هغه له ويناسره سمي کړي.

**۳۵ - سیال، سیالي**

په پښتونولی کي سیالي مهم ټکي دي، چه د سیال سره وشي. پښتانه ټول که شتمن دي او که نېستمن، لوړ مقام لري. که ټيټ عالم دئ که نه دئ، روغ دئ که ناروغ، په سیالی کي برابر دي. هر پښتون سیال دئ او د خپلي وسي په اندازه سیالي ته ولاړ دئ. سیالي په مال، په توره او مېړانه، په کار، خدمت، په راشه درشه کي ده. د مثال په توګه کلي ته مېلمانه راغلل، هر سړی له خپله کوره ډوډی راوړي. دا توپير نه لري، چه چا څه شي او څه ډول ډوډی راوړه. په ټولو خدماتو کي که جنګ وي که سوله، ټوله برخه اخلي او په سیالی او مسؤلیت کي شریک دي. که د چا واده وي خان يو پسه وروړي او خوار يوه ايشېدلي هګی، سیالي برابره شوه. په جنګ کي که يو له ټوپک سر او بل له کوتک سره راوتلي وي، سیالي برابره ده. هرڅوک هرڅه چه لري له هم هغه سره برخه اخلي. په پښتني ټولنه کي بې مسؤليته سړی وجود نه لري حتا د ناروغی په حالت کي هم له کوره راوځي، بيا اولس ورته وايي، چه ځه کور دي ودان ته خو ولاړ يې، خو توان ئې نه لرې، دا دئ مونږ يو. چيري چه د پښتون سیال نه وي پخپله کار کوي. او خپل مسؤليت ليري کوي. دوستي او خپلوي له سیال سره کوي. خپل مړی خپل وطن ته رسوي. پښتون د يوه وجود حيثيت لري. هرچيري، چه يو پښتون وي هغه خپل وجود ګڼي، چه د سیال همدغه مانا ده. څوک چه د سیالی په مانا نه پوهېږي هغه د رقابت (همچشمی)په مانا استعمالوي، خو په حقيقت کي داسي نه ده. پښتون د خپلي وسې په اندازه په سیالي کي برخه اخلي او وايي: هرڅوک په خپلي وسې سره پړ دئ.

**۳۶ - عزيز، عزيزولي**

پښتانه په داسي حال کي، چه پښتونولي او سیالي کي شريک دي او د پښتون تر سرخط لاندي سره ټول په پښو وېشل شوي، چه د خپلو تجروبو له مخي سره عزيزان دي او عزيزولي سره کوي، خو پښتانه دغه خبره په خوله هومره نه کوي دا ددوی کورنی خبره ده. عزيز يوه لويه کورنی ده، لکه احمدزي په خپلو کي سره عزيزان دي، يا ابدالي په خپلو کي، ځکه چه دوی له يوه پلاره دي بيا يو له بله عزيزان دي. او په پښتنو کي بېلو پښتنو ته هم عزيزان وايي.

احمدشاه بابا په دوو ټکو کي خپله فیصله کړېده:
لومړی ټکی:

ای احمده! دنیا تېره په هرڅا ده
ستا په توره به یو وخت فخر پښتون کا

دلته احمدشاه بابا هم هغه عام مفهوم ته، چه پښتون دئ اشاره کړېده. احمدشاه بابا سدوزی، پوپلزی او ابدالی دئ دا دده عزیزان دي، خو خپله توره د پښتنانه بولي.
دوهم ټکی:

ټوله یو که اودلي که غلځي
ښه هغه چي ئې د زړه ښیښه صفا ده

دلته احمدشاه بابا بیرته وحدت ته اشاره کړې او ویلي ئې دي، چه پښتونولي ته باید مخلص وي. دا مهمه خبره ده ځکه، چه پښتون مطرح دئ، نو صفايي هم پښتونولي ده او دوهم ټکی د وضاحت لپاره دئ. ځکه، چه پښتانه د مشر خبري د زړه په غوږ اوري، نو پورته دستورالعمل پوخ دئ.

**۳۷** - تربور، تربورولي
په پښتنو کي تره خپل د ورور زوی او لور ته داسي نه وايي، چه دا مي د ورور زوی یا وراره دئ. وايي دا مي زوی او دا مي لور ده او ډېر ماشومان پلار ته تره یا اکا وايي او تره ته پلار. یعني تره دومره مهربانه وي، چه ماشوم ته شک پیدا شي او ځني ماشومان ئې تر ډېره توپیر نشي کولای. نو په دې صورت کي هڅه دا وي، چه د ورونو زامن، چه تربرونه نه دي یوشاني په ژوند کي پرمختګ وکړي. ورورني، چه په عین وخت کي د تره زامن دي پرځای پاته شي. یو شتمن او بل نېستمن نه وي. یو عالم او بل بې علمه نه وي. یو مېړنی او بل بې زړه نه وي. نو تربورولي د برابر ګام اخستل دي او پښتون هڅه کوي، چه خپل تربور څخه، چه لکه ورور دئ، بیرته پاته نه شي او یو لاس بل لاس ته اړ نه شي. په

تربورولي کي يو د بل لاس نيسي، چه بيرته پاته نشي. هيڅ تربور د خپل تربور په بد حال راضي نه وي او نه هغه د بل لاس ته پرېږدي. نو تربور خوږه کلمه او تربورولي ښه کار دئ.

**۳۸** - اوږه

اوږه درلودل د طاقت مانا لري او اوږه ورکول د چا سره د مرستي مفهوم افاده کوي. پښتانه يوله بله اوږه ورکوي. او اوږه په اوږه د ژوند چاري په مخ بيايي. ښځه مېړه ته اوږه ورکوي او په درنو کارو کي لکه د ځمکي يا کور جوړولو کي کار ورسره کوي. ورور ورور ته، تربور تربور ته او پښتون پښتون ته اوږه نيسي. بې اوږې سړی د پښتون نه دئ خوښ. وايي: اوږه نه لري، يا ښه اوږه لري، او په جګړه کي ئې اوږ ه راکړه، د اوږې پور يې راباندي دئ. پښتانه د اوږې پور نه پرېږدې او د ضرورت په وخت کي ئې ادا کوي.

**۳۹** - ښېګڼه

دا کلمه له ښو کارونو څخه عبارت ده او د صفت حالت هم لري. د پښتنو په نوي ځوانانو کي دغه اصطلاح وتلې ده، چه (پ)پت، (ښ) ښېګڼه، (ت) توره او (و) وفا ده. که چيری دغه اصطلاح د لغاتو د اصولو سره برابره نه وي، نو دوی ددغسي تعبير حق لري، چه د پښتونولی څه اصول تشريح کوي.

ښه کول د پښتنو اصول دي. له هرچا سره ښه کول، که خپل وي که پردی، حتا که دوست وي يا دښمن. په پښتنو کې دښمن حتا که مړ هم کړي د ښځو او ماشومانو عزت او احترام ئې ساتي. تر دې، چه که شومه او سيمه ونه لري ورکوي ئې. که په لمر کي مړی پروت وي سيوري ته ئې راوړي او پر مخ او صورت ئې څادر غوړوي او خپګان ښرګندوي. د دښمن مال او ناموس ته په درنه سترګه ګوري. يعني پښتون د ښېګڼي مراعت په ټولو مواردو کي کوي او يوه شېبه هم د ښوکولو له انديښنې فارغه نه وي، هره شېبه د ښو په فکر کي وي او هڅه کوي، چه باطل فکرونه ئې مغزو ته لاره ونه کړي.

وايي:

هی توبه له حاسده له کاسده

ښه متاع کاندي فاسده

انګبین سکنجبین کا

په خوردن ئې تریو جبین کا

پښتانه له بدو فکرو توبه ګاره دي او تل د ښېګڼو په سوچ او خیال کې وي.

**۴۰** - رښتیا، رښتین

رښتیا په خبر او عمل کي د پښتونولی بنسټ جوړوي. د رښتیا او رښتین د ځرګندولو دپاره په ساعتونو جرګه خبري کوي. نښې او پلونه ګوري. پښتانه وایي چې: رښتیا، نه ریښتین، تر پښو لاندي کېږي او ریښتین، رښتیني هغه خبري دي، چي دوی یې لټوي. هر پښتون رښتین وي او که رښتین نه وي پلټنه ئې کېږي. په پښتني ټولنه کي د اعتبار ډېرېدل او لږېدل په رښتینولي کېږي.

**۴۱** - دروغ، دروغجن

دروغ په پښتونولي کي یو نه بخښونکی عیب دئ. پښتانه مرګ مني، خو دروغ نه وایي. حتا که سړی مړ کړي په هم هغه شېبه بړغ کوي، چه ما مړ کړ. نو په وړو خبرو کي پښتون په قطعي صورت دروغ نه وایي. وایي: خدای ته ورتګ لرو. د دروغجن سړي خبره هیڅوک نه مني او شاهدي ئې هم نه قبلېږي. په اسانه څوک خبري هم نه ورسره کوي. دروغجن ته سیمه دومره وړه شي، چه کډي کولو او د مېني پرېښودلو ته اړ شي. په زیاترو برخو کي پښتنو د رښتیاویلو په وجه خپل ژوند له لاسه ورکړیدئ. پښتون که دروغ ووایي پښتون نه دئ. که پښتون په ناپوهي کي غلطه خبره وکړي کله چه پوه شي، نو مقابل لوري یا جرګې ته حاضر شي او بخښنه وغواړي، پور ومني.

**۴۲** - پور

پښتون په هیڅ شي کي ځان پوروړی نه پرېږدي. حتا خپل ژوند د خدای تعالی پور ګڼي. کله چه پښتون مړ شي، نو پښتانه وايي: پور ئې پرې کړ. د پور پرېکول ښه خبره ده، نو پښتانه له مرګه وېره نه لري د ژوند پور ورکوونکی، چه هر وخت خپل پور وغواړي پښتون ورته چمتو دئ. د پیسو پور، د غلې پور، د یوې بلې ښېګڼي پور، یا د بدی پور پښتانه ورکوي. پښتانه په هر صورت کي پور په ځان نه مني او څو ئې، چه بیرته نوي ورکړئ، کراري نه احساس کوي او که بېخي بې وسی شي، نو د پور بخښنه غواړي او که پور زیات وي څو تنه سپین ږیري ورولي یا د جرګې په وسیله بخښنه غواړي، چه البته بخښل کېږي هم.

**۴۳** - ګوند، ګوندی

کله داسي پېښ شي، چه د دوو ډلو ترمنځ په نظر کي توپیر راشي، نو ګوند منځ ته راشي. دواړه خواوي د خپلي مدعا لپاره دلیلونه، شواهد او درکونه لټوي. کام د ګوندو ټول عملونه څاري او دواړو خواو ته پوره موقع ورکوي. او کله چه خبره شخړي ته واوړي، نو کام دواړه خواوي له مخکي تګ څخه منع کوي څو جرګه فیصله وکړي. که د یوه ګوند د کار نتیجه د کام په تاوان وي، نو کام د بل ګوند سره درېږي څو معامله له بېخه پاکه شي. کله کله ګوندي معاملې دوام وکړي. خو که کام ته کومه مهمه مسأله پېښه شي، نو ګوندې وځنډېږي او ټول هم هغې مسألې ته پام واړوي څو هغه حل شي. د کام د ګټي حیثیت او نېکمرغي تر ګوندي خبرو لوړي بلل کېږي. پښتانه د کام خبري د کام په سطح مطرح کوي او ټولو ګوندي ډلو د بدی څښتنانو ته خبر ورکوي، چه خپل منځي اختلافاتو باندي تیره کښېږدي او هیڅوک حق نه لري، چه د خارجي یرغل په موده کي په ګوندي مسایلو پسي وګرځي. ګوندي او ګوند کورنۍ معامله ده او دباندي ایستل ئې جرم ګڼل شي او سخته جزا ورکول کېږي، چه دغه جزاګاني د مال له مصادرې څخه نیولې بیا د کور تر سوځولو او حتا اعدام پوري رسېږي.

په تاریخ کي میرعبدالعزیز، د میرویس بابا ورور په دومره خبره اعدام شو، چه د ایران پادشاه ته ئې یو لیک لېږلئ ؤ، خو د میرویس بابا زوی محمود او د میرعبدالعزیز زوی

اشرف په ګډه د اصفحان په فتح کي برخه درلوده په ۱۷۲۲ م کي، چه محمود په اصفحان کي پادشاه شو اشرف د تهران والي ؤ.

**۴۴** - ولاړ

څوک، چه کامي او کورنۍ معاملې تر سره کوي، دغه سړي ته ولاړ وايي. پښتون ولاړ وي. د پښتون د کلمې سره ولاړ اوسېدل تړلی دئ. وايي: دغه سړی ولاړ سړی دئ. ولاړېدل پاڅېدلو ته وايي. هغه پاڅېدلو نه برسېره، چه سړی درېږي. ولاړېدل پاڅون او قيام ته هم وايي.

**۴۵** - پاڅون

کله چه د پرديو له خوا يرغل يا تېری وشي خلک په وسله بند قيام لاس پوري کړي. په ۱۸۴۲ م کال کي دانګليسانو او په ۱۹۷۹ م کال د روسانو په مقابل کي ملي پاڅون وشو.

که کښېنم ننګ و ناموس ځي
که پاڅم پاڅي توفان
(خوشال خان)

**۴۶** - پرېوتی

هغه څوک، چه کام او کورنيو مسايلو ته شا کړي دغه سړي ته پرېوتی وايي او د پښتنو له ډلي ايستل کېږي.

**۴۷** - بسپنه

په پښتنو کي د عامه لګښتونو دپاره بسپنه ورکول کېږي. بسپنه نقدي، غله، ځمکه او وړيا کار په څېر تر سره کېږي. ميرويس بابا د کام له بسپني هغه فعاليتونه تر سره کړه، کوم چه د ګرګين تر وژلو او د کندهار تر خپلواک کولو دمخه په کار وه.

**۴۸** - توره، توريالی

پښتانه په توره مين خلک دي. کله چه د پښتانه کور کي نارينه ماشوم وزېږي، نو په اوښي پوري ئې يوه وړه د سپينو زرو توره ورګنډي. کله چه ماشوم لږ غټکی شي، نو توره وېږني او د لومړي ځل لپاره د پښتانه د بچي لاس په توره لګېږي. او توره د غيرت په مانا استعمالېږي: دغه سړي توره وکړه توريالی دئ.

**۴۹** - تور، تورن

پښتانه ټول سپېڅلي او سپين خلک دي، خو کله چه يو بد کار وکړي، نو تور شي او هغه ته تورن وايي. تورن بايد جرګې ته راشي. جرګه ده ته پوره موقع ورکوي، چه ځان سپين کړي. تورن حق لري، چه د خپلو خپلوانو يا دوستانو داسي يو څوک راولي، چه د پښتونولی په اصولو پوه وي او دده له خوا خبري وکړي. جرګه د تورن ټول حالات لکه نېستي، دماغي ناروغي، سابقه، کورنی روزنه، اخلاقي عادتونه او نور په نظر کي نيسي او بيا خپله فيصله کوي. يا جزا ورکوي او يا ئې سپين ګڼي.

**۵۰** - ناورين

ځني خلک ناورين وي؛ نه پخپله سم وي او نه د بل چا اوري يا زړه سوی نه لري. د زړه ناورين وي. ددغه سړي صلاحيتونه لړېږي. د جرګې غړي نه شي کېدای. خبري ئې نه اورېدل کېږي. خلک ئې له معاملو ځان ژغوري. څو ځان اصلاح کړي او د ټولني صالح غړی شي.

**۵۱** - ډزي

له پخوا زمانو څخه پښتانه د خوشالی او بري په مهال ډزي کوي. که چيري د پښتانه په کور کي زوی وشي، نو ډزي کوي او خلک خبروي، چه دادئ يو بل پښتون پيدا شو او سبا به په سيالی او خدمت کي ستاسو ملګری وي.
کله چه روغه وشي، هم ډزي کېږي. په ودونو کې هم ډزي کېږي. ډزي د خوشالی د اعلان او څرګندوني دپاره وي.

**۵۲ - ډول**

ډول د خوشحالۍ اوآز دئ د پښتنو ډېر خوښ دئ. پښتانه وايي: ډول د زړه ګرد ليري کوي. د ډول په برخه کي داسي ويل شوي دي، چه:

چه دي غاړي ته کا پښتون ځلمي

بام د اسمان په درزېدو راشي

د پښتنو په کلو کي مازيګر، چه خلګ له ورځني کارونو څخه خلاص شي، نو ډول غږول کېږي او پښتانه د ډول په غږ خوشاله کېږي.

**۵۳ - اتڼ**

اتڼ ملي نڅا ده. هر پښتون اتڼ کوي. په اتڼ کي ګډون د هر پښتون لپاره ښه دئ. نارينه وي که ښځي، ځوانان وي که پيغلي، خانان وي که غريبان، حتا سپين ږيري هم ښه پرې ايسي. اتڼ ځانله آهنګونه لري. پښتانه له تورو او ټوپک سره هم اتڼ کوي. غبرګ اتڼ هغه دئ، چه ښځي او نارينه ئې په ګډه کوي، چه اتڼ تود شي بيا پښتانه ځوانان غورځي او يو شاني ږغونه وباسې. اتڼ چيان، چه ښه اتڼونه کوي، نو له يوه ځايه بل ځای ته غوښتل کېږي.

**۵۴ - ډمامه**

د پښتنو په سيمو کې د موسيقي ډلي وي، چه په ودونو او د خوشالۍ په وختونو کي سندري وايي او موسيقې ږغوي. رباب يوه د موسيقي آله ده، چه پښتانه ځوانان ئې شوق کوي. غيچکه، آرمونيه، سرنا، تبله، په ډمامه کي ږغول کېږي. کله چه پښتانه فتح وکړي، نو ډمامې او نغارې ږغول کېږي، شاعران شعرونه وايي، لنډۍ او نور نظمونه اورول کېږي.

نن دي غم له ما نه ځان ساتي که ښه کا
چه رباب او سرنده غوندي غمخوار شته
ساقی یو ځل بیا زما د ښار خبر واخه
لا په کوڅو پاتې یو څو پرهېزګار شته

موسیقي د پښتنو خوښ او ځانله موسیقی لري، چه د ډمامې په نامه یادېږي.

**۵۵** - خندا
پښتانه خپلي خندا ته ارزښت ورکوي او پښتانه له هر چا سره نه خاندي. که چا سره وخاندي نو وايي: اوس مو سره خندلي دي. يعني ددې خندا بايد مراعات وشي. خندا د لطف او مرحمت نښه ده او داسي مانا لري، چه اړيکي سمي دي او وايي: خندا مو شته.

**۵۶** - ژړا
دا د فرياد مانا لري او وايي: ما خپله ژړا ورته کړېده. پښتانه په آسانه نه ژاړي، خو له ژړا نه مطلب د مقابل لوري د موضوع په اهميت پوه کول دي او هغه تاوان، چه پېښيږي مخکي له مخکي ژړا په کار ده چه دغه ژړا په حقيقي ژړا بدله نه شي. نو کام، چه په راتلونکي مصيبتونو څوک خبر کړي بيا وايي: ما ژړا وکړه.

**۵۷** - ګاونډ
د پښتنو سيمو ته د نورو ځايو خلګ د تجارت، کسب، مزدورۍ او ځينو نورو عواملو په وجه راکډه کېږي او طبيبان، ملايان، سيدان، مياګان او نور ژوند کوي، چه د ګاونډ په نامه يادېږي. ددوی د سر، مال او ناموس ساتنه د پښتونولی پر بنسټ د کام وظيفه ده.
ددوی مادي او معنوي ساتنه د پښتنو پر غاړه ده. پښتانه د ګاونډ سره ښه چال چلند کوي او ددوی په مخکي داسي خبري نه کوي، چه ددوی د خواشينی سبب شي. د ګاونډ د حال پوښتنه د روغ او ناروغ پوښتنه د کام له لوري کېږي. هيڅ څوک حق نه لري، چه ګاونډ ته

مادي یا معنوي تاوان ورسوي او که دا کار وشو، نو سخته جزا ورکوله کېږي. سربېره پردې چه هغه حرکت به جرم وي، خو بې همتي هم ښيي.

**۵۸** - سړی، سړیتوب

پښتانه سړیتوب ته ډېر اهمیت ورکوي. هغه څوک، چه انساني عواطف ولري هغه ښه سړی بولي. تقوا، د خلگو سره مرسته او زړه سوی د انسان او حیوان سره پښتانه خوښوي. په پښتونولی کي د کلک زړه خاوند بد گڼل کېږي او د مشر او خان په توگه ئې نه غوره کوي. په تاریخ کي دا هم راغلي، چه ۱۷۷۴ م کال د شېرسرخ په زیارت کي، چه کومه جر گه وشوه د نورمحمد خان غلزي رسوخ زیات ؤ، خو پښتنو په خپلي مشری ونه ټاکه. ځکه هغه د تند مزاج څښتن ؤ. او احمد زړه سواندی ؤ. دا نو وروسته ثابته شوه، چه احمدشاه بابا زړه سواندی ؤ. که څه هم دی ځوان ؤ بیا هم پښتنو ده ته د بابا لقب ورکړ او تراوسه پوري ئې هم په دې نامه بولي ځانونه دده اولاده گڼي. پښتانه، سړی د نه سړي په مقابل کي استعمالوي.

**۵۹** - سپک کتل

په پښتونولی کي سپک کتل جزا لري. که څوک د چا څخه د غلا په نیت وتلی، خو غلا یې نه وي کړې، دلته دغه جرم پاته دئ، چه ده سپک کتلي دي. که څوک د چا یوه چرگه پټه کړي چرگه اهمیت نه لري، خو سپک کتل ئې جرم دئ. دلته باید دا هم وویل شي، چه غلا خو جرم دئ، نو ددې په څنگ کي د سپک کتلو مسأله هم ده، چه نوموړی سړی ئې تر نظر کمزوری ورغلی دئ. په هره برخه کي که جرم شوی وي او کنه، دا دوې برخي لري: اصلي جرم او سپک کتل، چه وروستی برخه ئې نه بخښل کېږي. ښایي، چه د غلا مال و غله ته ورویخښي، خو د سپک کتلو حساب ورسره کوي.

**۶۰** - پېغور

پښتانه ځانته پېغور نه پرېږدي. ډېرو پښتنو په دې باندي ځانونه وژلي دي، چه دده پاتې کسانو ته پېغور پاته نه شي. د پښتونولی له هر اصله څخه بیرته پاتې کېدل پېغور لري.

**۶۱** - عالم او روحاني

په پښتونولی کي عالم او روحاني له عمومي چارو څخه بې غمه وي. دغه خلګ د علم له مخي خپل نظر ورکوي او ددوی نظر جرګې ته د اهمیت وړ دئ. د ماشومانو زده کړه، د مشرانو حتا د سپین ږیرو ګډون باید په هغه علمي مسایلو کي، چه نه پوهېږي ځان خبر کړي. لیک لوست زده کړي. د عالم او روحاني ټول خرڅ او مصرف د اولس له پلوه ورکول کېږي. ددوی عزت او د عزت ساتل د اولس وظیفه ده. په پښتنو کي دیني او دنیایي عالمان او ماهران د قدر وړ دي او د ټولني معنوي پانګه ده.

**۶۲** - ډېره او هجره

په کلو کي ډېره وي او په کورونو کي هجره. پښتانه و پردېسیانو او مسافرو ته ډېره جوړوي، چه هلته د مېلمنو لپاره د کلي د هر کور څخه چای، شلومبې، ډوډی او نګولي راځي. خو که مېلمه د یوه سړي وي، نو هلته په هر کور کي د مېلمنو هجره وي. پښتانه، چه کله کورونو ته ځي، نو پر ډېره راتېرېږي او ګوري، چه هلته خو به مېلمانه نه وي ترڅو له دوی سره ستړې مه شې وکړي او په خورا ورین تندي ورسره خبري وکړي. د ډېرې له مجلسه وروسته کورته ځي.

**۶۳** - د ښې وتل

هر پښتون د ښه کولو په فکر کي وي، چه چاسره ښه وکړي او هغه څوک، چه د اقتصادي خوا یا اخلاقي خوا نه ناتوانه شي او چا سره ښه نه شي کولای او یا ئې نه کوي، نو پښتانه وایي: چه دغه سړی له ښې وتلی دئ. او یا وایي: چه تراوسه لا له ښو نه یم وتلی.

ای پښتنو ځوانانو!

تاسو ته مي پښتونولي وليکله، چه بيا ونه واياست، چه مونږ نه پوهېدو.

پښتونولي سپېڅلې لاره ده. پښتون به بې پښتو وي که پښتونولي ونکړي.

تل دي وي پښتون، پښتو او پښتونولي

پای



زمزمه یو د اوو سوو توپونو نه دهغه توپ نوم دی چې د احمدشاه بابا په حکم جوړ او د پاني پت په ډګر کښې وغوړېد. دا توپ اوس د پاکستان د لاهور ښار د پوهنتون او موزیم سره ځای لري.

"The Zamzama Cannon," one of the seven hundred cannons built in Ahmad Shah Abdali's era, used in Panipat Battles, currently displayed outside the Lahore Museum and University in Pakistan.

# Preface

"Pashtoonwali and Afghan National History" first published in 1992 and has since been republished multiple times in different countries. Due to high demand and Afghanistan's critical state, we are republishing the book that explains the Pashtoon or Afghan codes of ethics. Some of these codes are practiced in Pashtoon and non-Pashtoon areas within Afghanistan and on the other side of the Durand Line. It is important to understand Pashtoonwali and how scholars have practiced it and elders for centuries to settle disputes, solve social problems, address political, economic, and other issues. In Pashtoonwali, representatives are elected by the community to represent constituents and help solve problems through dialogue at both the local and national level through what is called jirga (council) at the local level and Loya Jirga (Grand Council) at the National level. When Afghans ruled India in the 17th century during the Abdali Empire, some of these practices like jirga also introduced there to settle disputes where they referred to it as Panchaiat, and it is still practiced. Over 60 codes of ethics of Pashtoonwali are explained in details that go back hundreds of years helping address issues in a democratic way, and it is much older than Western democracy. However, due to ethnic cleansing and genocide of Pashtoons, systematic assassination of Pashtoon figures, and trying to eliminate Pashtoonwali, new ideologies have been introduced, forced, and have failed, such as extremism, communism, and Western Democracy. This book came under criticism from some elements, and at the end of this book, all critiques and the responses by Mr. Naseer Hoonar Pashtoon have been published. It would have been

wise for these elements to criticize the cultural genocide taking place in Afghanistan instead, but unfortunately, they spent their time and energy on attacking something that is part of our country and culture. It will be wise for all Afghans, especially the educated sector, to prevent foreign influence. Foreign influence and interference is moving in at an unbelievable rate in Afghanistan, and we all witness simple changes like the clothing sold in bazaars, media programming, changing of accents, the education system and disrespecting our national leaders, the fathers of our nation. Although we are not obligated to answer to such individuals because Pashtoowali's roots are much stronger and have historical roots and with high principles as it are practiced by millions of people, we have decided to add a section for the younger generations to understand and be prepared to be able to defend such criticism with logic and historical facts. On that note, I would like to thank Mr. Naseer Hoonar Pashtoon for his effort to respond, and we have published this in the back of this book. My thanks are also extended to Zalmai Pashtoon for his assistance with editing.

This is one of many books written by my late father, Qudratullah Haddad Farhad, who wrote for over 60 years and had deep understanding of Afghan Culture, history, and politics. During the sixties and seventies, many new ideologies and political parties were formed, but Ghulam Mohammed Farhad, the founder of Afghan Millat and Haddad Sahib along with a group of Afghan Patriots promoted and emphasized nationalist ideas and figures. As a nation, we must look back at our history, culture, language in order to survive the current situation where our country is surrounded by major powers who want to eliminate our culture and

corrupt our society. We encourage the younger generations, who understand the codes of Pashtoonwali, to research on this further. We will recover from wars and all the casualties but not from the loss of culture, traditions, and values if we are not careful. Afghanistan will get out of this situation since this is not the first time we are going through difficult times, but unfortunately, it comes with a price that puts us centuries behind. The countries that we ruled once are now directly interfering in our internal affairs. During the cold war, people around the world from America, Europe, to Asia were living in fear, but it was the Afghans who sacrificed millions of lives, accepted hundreds of thousands of orphans and widows, and were left with a destructed nation. Because of the Afghan sacrifice, new countries emerged on the world map. After the defeat of the Soviets, the major thing Afghanistan's neighbors feared was the courage and charisma of the Afghans, and if the hundreds of thousands of Mujahideen and the professional Army that was left behind by the communist regime with the latest technology would have united, Afghanistan would have had the potential to be a regional power, and the neighbors feared that. By arming different factions and fueling the civil war and cultural genocide, those who interfere wanted to eliminate the nation as a whole. With the new government in 2001, innocent lives were again lost and former warlords were not brought to justice but instead were given high profile government positions. Some people were hopeful but then again the system of Loya jirga was used to the advantage of non-Afghans and on the day of the jirga, former King Zahir Shah was sidelined. We may see some progress with reconstruction, education, and economy, but unfortunately, it is not long term. One of the important things for any government to survive is justice, and that is something we

lack. If a chance is given to the Afghans by forming a true Loya jirga and true nationalists take part, a strong national government can be formed free of warlords, drug lords, and white-collar criminals holding foreign passports while supposedly serving the Afghan government. When foreign countries claim they are nation building, they only do so for their own interests and what happens to the people of that country or the future means very little to them. Let us turn back our history and focus on our way of solving our dispute and focus on education. We have enough people with talent and expertise outside of Afghanistan who really want to work towards the stability and advancement of Afghanistan. As Mirwais Neka stated: "The people of talent and knowledge live not only in big palaces and big houses; people of talent and knowledge also resides in our mountains and deserts." A chance needs to be given to those who made sacrifices for the freedom of the country, the true Mujahideen who shed blood for the freedom and dignity of the country and are out of the picture, forgotten. We Afghans have something unique and priceless, and that is courage and charisma. What we need is to work towards education and work towards a united, independent, politically and militarily strong nation like our forefathers Mirwais Neka and Ahmad Shah Baba once had for us.

Wali Haddad Farhad

2013